# Daily Wahdat -Peshawa

# ورځپاڼه وحدت - پېښور

بنسټ اېښودونکی: پیر سید سفید شاه همدرد

ذمه وار: سید هارون شاه

## د پښتنو ټولنیز ولسولیز ګوند او د

## پښتون قامي وحدت په اړوند خپرې شوې لیکنې



اسفندیار

# د ډیورنډ کرښه هیڅکله نه منو

داکرښه دلراوبرپښتنو دویشلوسازش دے خوښتانه ځوک هم په داسې کرښوجدا کولے نه شي افغانستان زماکور دے اوزه خپل کور ته راغلے یم

حکمرانان دپښتنو په خاوره دپښتنو وینې توي وي، دوزیرستان اوباجوړ نه پس اوس د خیبرایجنسي نمبر دے، صحافیانو سره خبرې ،دزلمي هیوادمل لخوا په تورخم داے این پی دولې درونداستقبال وشو

PESHAWAR SATURDAY, APRIL,14, 2007

تورخم ته په رسیدلو دافغان اولس مشر په نمائندګی

د دولت وزیر زلمے هیواد مل اسفندیارولی

میرمن نسیم ولی خان او افراسیاب خټک ته دروندهرکلے وائی۔

(فوټو شیرزاد)

جلال اباد(نوررحمان شیرزاد) د عوامی نیشنل پارټی دمشر اسفندیار ولی خان په مشری د دغه پارټی یو شمیر غړی د تورخم له لارې جلال اباد ته لاړل. په دغه هئیت کښې داسفندیار ولی نه علاوه بیګم نسیم ولی

باقی صفحه 5نمبر1

14 اپریل 2007

THE FIRST AND ONLY PUSHTO DAILY OF PAKISTAN

A.B.C CERTIFIED

په ټول ملک کښې د پښتو روميني او اکيډيوه ورځپانه

ورځپانه پېښور

# وحدت

رجسټرډ پي ۲۷

چيف ايډيټر: پير سيّد سفيد شاه همدرد

د نهي ورځ ۱۲ رمضان المبارک ۱۴۱۲ هـ ۱۷ مارچ
۱۹۹۲ء يکم چيتر ۲۰۴۸ ب، بيعه دوه روپئي، جلد ۷ شماره ۱۳۷

## دَ کونړ دَ ولايت قومونو منډا کيمپ کښې شورئ جوړه کړه

### افغان جرګې د پاره د زمونږ دَ شورئ نه هم نمائندګان واخستے شي

پېښور (پ ر) د کونړ ولايت د قومونو يوه لويه غونډه منډا کيمپ کښې اوشوه غونډه کښې د کونړ ولايت عالمانو جهادي قوماندانو او قومي مشرانو ګډون او کړو غونډے په يوه خله و کيل

عبدالجميل ملنګ د قومي شورئ رئيس، ملک عبد الاحد مرستيال. ډاکټر صادق منشي او عبد القيوم د دويم منشي په توګه اوټاکلے شو. د

جرګے برخه والو د پاکستان حکومت مننه او کړه چه د ډير لس کاله ئې د افغان اولس سره سم ډيرو او تکليفونو ته ځان اونيولو دے نه علاوه غونډے اقوام متحده د پنځو نکتو د فارمولے هم حمايت او کړو او بينن سيوان نه ئې غوښتنه او کړه چه د لوئے جرګے لپاره د زمونږ د شورئ نه هم يو نمائنده واخستے شي.

THE FIRST PUSHTO DAILY OF PAKISTAN

ABC CERTIFIED

په ټول ملک کښې د پښتو ورومبې ورځپاڼه

MEMBER APNS

بیمه څلور (4) روپۍ

رجسټرډ پي ۲۸

THE DAILY WAHDAT PESHAWAR

ورځپاڼه وحدت پېښور

جمعه ۴ جون ۱۹۹۷ء

# د پښتنو د یووالي ورځ په جرمنی کښې نمانځلې شي

پېښور (وحدت خبریال) سباله د جرمنی په ښار کولن کښې د پښتون قام د یووالي ورځ نمانځلې شي چې ور کښې به د نړۍ د کنړو هیوادونو نه خواوشا دوه زره لیکوالان، پوهان او سیاستدانان او هلته میشته

باقي صفحه اخر اول کالم

## باقي:: پښتانه یووالي ورځ

افغانان ګډون کوي. دا ورځ هر کال په جرمنی کښې د میشته پښتنو د تنظیم پښتون سوشل ډیموکریټک ګوند د سیوري لاندې نمانځلې شي. چې پکښې پوهان د پښتون قام د یووالي د ضرورت او اهمیت په حقله ډېرې ګټه ورې خبرې کوي. د دې ګوند باني او مشر ترقي پسند شاعر او لیکوال کبیر ستوري په بوه سر که کښې ووې چې سږ کال به په دې ورځ د افغانستان په خاوره د امن د قیام په لاره چارو غور کولے شي. ستوري زیاته کړه چې پښتون د یو وحدت نوم دے او دا وحدت نور ډېره موده د یو بل نه جدا نه شي باقي کیدے.

د پښتونخوا ملي عوامي پارټۍ مشر او پخوانے وفاقي وزیر محمد افضل خان به په دې موقع مشر میلمه وي څو ک چې د جون په شپږو د پښتمه نیټه جرمنی ته رسیدلے دے او په دې ورځو کښې نې ګڼو قام پرستو پښتنو سره لیده کاته کړي دي. په دې دستوره کښې د تنظیم مشران غړي محمد شیرین کرد بوال، علي خان مسعود او هدایت بنګش میلمنو ته هر کله راشه وائي. او د دې ورځې په اهمیت به خبرې هم کوي.

THE FIRST PUSHTO DAILY OF PAKISTAN

ABC CERTIFIED

په ټول ملک کښې د پښتو ورومبې ورځپاڼه

MEMBER APNS

ورځپاڼه

پېښور

THE DAILY WAHDAT PESHAWAR

# وحدت

چیف ایډیټر: پیر سفید شاه همدرد

د جمعې ورځ ۲۸ وروستے خور ۱۴۱۸ هـ ق، ۹ لړم (عقرب) ۱۳۷۶ هـ ش، 31 اکتوبر 1997ء، جلد 12، شماره 295

## د پښتنو سنطقه کښې امن او سوکالۍ د وخت ضرورت دے، ستوری

### وخت راغلے دے چې ویښل شوی پښتانه خپلو کښې یو شي، کولون کښې مرکه

کولون (پ ر) د پښتنو ټولنیز اولس ایز
ګوند د احمد شاه بابا د باچا کیدو او د لوئې
افغانستان بنسټ ایښودو د دوه سوه
پنځوسمې کلیزې په اړوند د چارشنبې په

ورځ د 1997 عیسوی کال د اکتوبر د
میاشتې په یو کم دیرشمه نیټه د ماښګر
په شېږو بجو د جرمنی د کولن په ښار

باقي صفحه اخر دریم کالم

**باقي :: کبیر ستوړے**

کښې غونډه وکړه. نوموړی ګوند
جرمنی څخه رالیږل شوی فاکس کښې
وئیلی دی چې غونډه کښې د پښتنو د
ټولنیز اولس ایز ګوند د مشر او د
مشرانو د جرګې د غړو نه علاوه د پښتنو د
کلتوری ټولنې «کولن» مشر محمد
شرین ګردیوال، د پښتون کور استازی
مبارز ساپی او ګڼ شمیر سینه والو ګډون
کړے وو. غونډه د پی ایس ډی پی د مشر
ډاکټر کبیر ستوری لخوا پرانستل شوه
او د احمد شاه بابا د باچا کیدو او د لوئې
افغانستان د جوړیدو د دوه سوه پنځوسمې
کلیزې په باب ئې حاضرینو ته د خپلې
وینا په ترڅ کښې ووئیل «د احمد شاه بابا
په دیره کښې ټول پښتانه یو ځائې راغونډ
وو خو د وخت غاصب قوت په برخو
وویشل، اوس د دې وخت را رسیدلے دے
چې ویشل شوی پښتانه یو ځائې شي.
ستوری زیاته کړه چې د پښتو یووالے په
سنطقه کښې د امن او سوکالۍ لپاره د
وخت ضرورت دے». بیا یوهاند ډاکټر
محمد قاسم جمدړ، ډاکټر شیر افضل
ګردیوال، انجنیر حبیب رسول او محمد
شرین ګردیوال او نورو ویناوې وکړې.

وحدت
رجسټرډ پي نمبر 27
چیف ایډیټر: پیرسفید شاه همدرد
شنبه (خالی) 25 ربیع الاول 1420 هـ ق، 21 سرطان (چنګاښ) 1378 هـ ش
10 جولائی 1999ء، 26 اړ ب 2056، جلد 24، شماره 190 بیعه 4 روپی
په ټول ملک کښې د پښتو ورومبې ورځپاڼه
پېښور
THE DAILY
WAHDAT
PESHAWAR
ورځپاڼه

## جرمني کښې د افغانستان «دقلم توره»

بوقلم د بري ئې معنې
د بر ئې مطلبونه
مختلف ئې کارونه
کوم قلم چې فقط قلم وی نو
صرف حرفونه ولیکی خو کوم قلم چې
توره هم شی نو تاریخونه جوړ کړی.
سولړ چې دقلم اؤ توري د حقله تاریخ
ته کورو نو خوشحال بابا هم قلم اؤ
توره یوځائې استعمال کړی دی.

زه ئې چالره وهم قدر ئې چا زده
په ادروسوژه داتوري قلمونه
نن چې زه د افغانستان «دقلم توره»
یادوم نو د ابدالی دقلم اؤ توري دوطن
د یو شاعر کتاب «دقلم توره» زما په
وړاندې دے د ډاکټر کبیر ستوری
د شعرونو مجموعه، دقلم توره، چې په
تصویری او معنوی لحاظ د افغانستان
په ائینه کښې وګورم نو ما ته ستوړے
دټولو پښتنو د هغې ارمان په شکل
کښې ښکاره شی چې وئیل به ئې:

لے دسبا ستوریه کله به راخیژې ته

افغانانو د خپل ارمان ترانه په داسې
وخت کښې وئیلې ده چې هغوی سره
خپل ستوری په خپل اسمان کښې
موجود وو. داترانه دا ارمان چې اوس
دلر او بر پښتانۀ ووائی نو درد اؤ یاس
به ئې لا زیات وی ځکه چې زمونږ
د ارمانونو د بر پلاستوری په پردو
اسمانونو ورک دی په دغه ستورو
کښې یو ډاکټر کبیر ستوړے هم دے.
ما ستوړے لیدلے نۀ دے خو
د هغۀ د شعر په وجود کښې چې کومې
ناڅلاوې پښتې سره ګډې دی په هغې په
پوهیږم. ستوری زه لیدلے نۀ یم خو ما
غم چې په کوټو غږونو اورې هغه
د پښتون شعور غږونه دی. نن چې
د هغۀ کتاب ساله د هغه برخوردار
راورو نو، دقلم توره، زما په وړاندې
د ډاکټر کبیر ستوری یو داسې شعری
تصویر ښکاره شو لکه چې ما ته وائی!

فکرونه مې ګلونه شول په قام به ئې شیندم
خیالونه مې سازونه شول نغمې د ژوندون هم

سور پوښ یم ستوړے وائی سرې جامې مې
دی الـوسـی
په لاردباچا خان به لدم ودم مخکښې به ځم
ډاکټر کبیر ستوړے د باچا خان او
د باچا خان په حواله د هر پښتون قوم
پرست د لارې مل دے. هغه زما د وطن
د هغه پښتون قوم پرستو لاربودانو
معتقد دے چې اوس د هغوی نه پخپله
لاره ورکه ده. ورک خلق چې په ورکو
بسې روان شی نو هغوی لا ورکیږی.
د اګیله یا دا باور به ډاکټر صیب نۀ




کوی ځکه چې هغه د پښتو د خاورې
نه د بر لرې د جرمنی د رنګونو په مابام
کښې ګردش کوی خو که هرچا د
خپل وطن نه لرې د رنګونو د مابام لۀ
پامه خپلو وطنونو ته وکتل نو د پښتو
د اسمانونو په سرو اسمانونو کښې به
ورته په شپه کښې هم دا اسمانونه
د شفق د رنګونو هنداره ښکاری. او
دوطنونو ډشې اؤ ورځې په وختونو
کښې به ئې خطا کړی. زه محترم
ستوری ته پیخور نۀ ورکوم ځکه چې ځان
سره ئې په هغه وېر کښې اخته کوم
چې پخوا د بر پخوا به سونږ په پېښور
کښې د کابل نه داغیږ اوریدو.
لے دسبا ستوریه کله به راخیژې ته،
نو زمونږ د خپلې پښتونخوا د اسمان په
حقله د ابلین پوخ شو. چې د دې اسمان
نه یو بل اسمان هم شته چې په هغې
د پښتون د لمست ستوری راخیژی او
زما کوی خو خوب، خوب وی. دا
خوب سونږ تولو پښتو په کلونو کلونو
ولیدو سونږ سره په لاسونو کښې فقط
قلم پاتې شو. هغه قلم چې زه ورته د
ځان اؤ خپلو بچو د پاره د معاش ذریعه
وایم او دوطنونو نه لرې پښتانۀ ورته
توري وائی. زما په شان یو قلم په
جرمنی کښې ډاکټر کبیر ستوری
سره هم دے هغۀ ترې توره جوړه کړې ده.
د خپل قلم ژوند ئې اوږد اؤ تاریخ ئې
جوړ کړو. دقلم نه توره جوړول د هرچا
کار نۀ دے د اجرات غواړی خپلې نظریې
اؤ مقصد سره وفا غواړی سونږ په غریب
وطن کښې د قلمونو نه توري نۀ شو
جوړولے. ځکه خو د کابل نه تر پېښوره
پورې سرې لیکرې راپورته نۀ شوې.
دلته د قلمونو ژوند ته خطرې
اوډ ریدې. توري اؤ پټکی ورک شول
کتابونه او تاریخونه وسوزیدل نظریې
اؤ مقصدونه ختم شول جګ سرونه خم
اؤ غرانګور اوازونه بوغی شول. په
داسې حالاتو کښې چې د هر لوری
څوک د قلم نه توره جوړه کړی نو هغه
به په تیارې کښې د رڼا لیکے وی.
د خپل وطن د خپلې خاورې نه
لرې په جرمنی کښې چې لا اوس هم
ډاکټر کبیر ستوړے دقلم توره په لاس
غر پورته کوی نو دادزې پښتنی
عقیدې او نظریې اعتراف نۀ دے نو څۀ
دی ؟ زه د هغۀ د دې پښتنې تحلې په
خوطه دوسره وتیلے شم!

لستا دقلم توره
لکه جنډه د پښتون
لکه یو غرب د ابدالی د توري
لکه یو بریښ د خوشحال خان د قلم
لکه اواز د باچا خان د خاورې
د دې نه وروستو عهد
بالی وختونه
لکه په ځائې ولاړ دی
لکه پښتون چې سر دے
سرې قلم څۀ کوی
سرې په تورو څۀ کا؟

ABC CERTIFIED
THE FIRST PUSHTO DAILY OF PAKISTAN
MEMBER APNS
په ټول ملک کښې د پښتو ورومبې ورځپاڼه
پېښور
ورځپاڼه
وحدت
چیف ایډیټر
پیرسفید شاه همدرد
رجسټرډ پي نمبر 27
دجمعې ورځ 27 شعبان المعظم 1424 هـ ق، 1 لرم (عقرب) 1382 هـ ش
24 اکتوبر 2003ء، 6 کتک 2060 ب، جلد 28، شماره 292، بیعه 4 روپی.

## دمیرویس بابا پګړی

ډاکټر کبیر ستوړے

بچې دې د پښتون ډیر شی کۀ لروی اؤ کۀ بر
هر ګټ کښې دې پیدا شی د خوشحال نیکۀ لښکر
د پت ښکړې توري ورولې ئې جوړه ختیه
په ننګ کښې ئې اخیستلې د پښتون هډ اؤ ټبر
پښتو اؤ پښتونوالې په ورونې کښې ئې ونغاړه
اے پلاره د میرویس بابا پګړې کړه ورپسر
چې سر تیټ نۀ کړی غیرته ازادی سندرې وائی
اؤ توري د ښکیلاک ته ئې سینه وی لکه سپر
د توري اؤ قلم خاوند چې هر پښتون بچے شی
نو هلته به روښانه شی بیا ستورے د سحر

ABC CERTIFIED

THE FIRST PUSHTO DAILY OF PAKISTAN

MEMBER APNS

په ټول ملک کښې د پښتو ورومبۍ ورځپاڼه

ورځپاڼه پېښور

# وحدت

چيف ايډيټر

پير سفيد شاه همدرد

رجسټرډ پي نمبر 27

دوشنبه (پير)، 20 ذي القعده، 1422 هـ ق

4 فروري 2002، 24 ما، 2058 ب، جلد 27، شماره 35، بيعه 4 روپۍ

# افغانستان خارجي مداخلو تباه کړيدے، اجمل خټک

## د افغانستان په حقله د جنرال پرويز مشرف د پاليسي مرسته کوؤ، د غربت خاتمې سره به دهشت ګردي پخپله ختمه شي

کوهاټ (فيروزخان صادق) دنيشنل عوامي پارټۍ مشر او بزرګ سياستدان اجمل خټک وئيلي دي چې شعر او ادب دقام وجود قائم ساتي او دشاعرانو اديبانو دبرکت نه پښتو ژبه او پښتون قام په دنيا کښې موجود دي ده تيره ورځ دکواټ په

پاتې صفحه 5 کالم 5

### پاتې: اجمل خټک

غورزئي کلي کښې د اباسين ادبي ټولنې کوهاټ دورومبۍ کليزې په مناسبت جوړې شوې غونډې ته دمشر ميلمه په حيث خطاب کولو ده دملکي سياست په حقله ووېل چې هنداوپاکستان دې دمذاکرات په ذريعه مسئله حل کړي ولې چې د جنګ په صورت کښې به دواړه ملکونه اوټوله شيمه تباه شي د وحدت په پوښتنه ده د افغانستان په حقله ووېل چې د جنرل مشرف پاليسي د قدر وړ ده ده ووېل چې غربت ختم شي او تعليم راشي نو دهشت ګردي به خپله ختمه شي ده ووېل چې ما دجنرل مشرف سره ليدل کتل کړيدي او ورته مې دسيمې په حالاتو ټول حال وئيلے دے ده ووېل چې د افغانستان مسئله به دلوې جرګې دلارې هواريږي ده ووېل چې افغانستان بهرني مداخلې تباه کړے دے افغانستان ستر ابدالي دټولو افغانانو دپاره جوړ کړيدے بايد ټولو قامونو ته پکښې مناسبه نمائندګي ورکړے شي ده ووېل چې د افغانستان مسئله واشنګټن کښې نه بلکې د افغانانو ترخپل مينځ خبرو کښې هواريږي ده ووېل چې پاکستان دموجوده افغان حکومت سره ښې اړيکې غواړي خو بعضې لاسونه دا نه غواړي ده ووېل چې زمونږ پارټي د افغانستان دننه دقيدشوو پاکستانيانو دخلاصې دپاره کوشش کوي او په دې حقله زمونږ خبرې اترې شروع دي ده ووېل چې امريکا افغانستان کښې خپلې پښې ښخول غواړي خو افغانان به دوي داسې کولو ته کله هم پرې نه ږدي ده ووېل چې که يورپي ملکونه د افغانانو د ښې دپاره کارونه کوي نوموږ نې مرستې کوو خو که اراده نې نوره وي نو مونږ نې غندنه کوو غونډې ته د علاقې ناظم ملک فضل ربي پروفيسر محبت خان خټک فيروز خان صادق او ځنې نورو مشرانو هم تقريرونه وکړل

زیارت (پنجشنبه) ۱۶ اکتوبر ۱۹۹۷ء
THE DAILY WAHDAT PESHAWAR
ورځپاڼه پېښور
وحدت

## وحدت

لیک: بصیر ستوېنه

هسې خو د وحدت په نوم د پر خلق کار کوي او د دې لپاره لاندې د پر ځه ځايونو او شته خو زه دلته د «ورځپاڼې وحدت» خبره کوم.

وحدت چې نه کوښي ورځې خپلې خپروني په پښتو ژبه خپرې کړې د هغه ترسیخ د پر کلونه تېر شول خو په دغه تېرو شوو کلونو کښې چې کوم ستر او لوی خدمت د وحدت ورځپاڼې د پښتو ژبې لپاره د ژبنيو اقتصادي او سیاسي ستونزو سره کړې تر هغوک په ...

[illegible]

## د پردې ترشا ـ ګناه د چا ده؟

لیک: عبدالبصیر ستوېنه

په ۲۰ نومبر د پښتونخوا د ګنګورګپانو شرځي (ضپ ټکی) د یوې بد نصیبي افغاني کورنۍ د لسو تنو د مرګ خبره چې د یوه زوړ کوره کوټې د چت په رابرېدو بکې د یوې کورنۍ ټول غړي د دوو نه تر زړو پورې دا ټپ لپاره د خاورو لاندې شول. د دغه غمناکې پېښې خبره په اکثره افغانانو خبر شوې وي او ډېر به پرې ویرژلي او خفه شوي وي.

ستل چې وائي: د خوارو برخه خوارو وي، بې وزله او خوارو افغانانو مولا د خوښې کوښتې کودنا خوځه ترلنه پورې اړاسته او ...

د دغه کورونو مالکانو نه دې خدائي انصاف ور کړي، د خوږبیو ګټو په غرض به دا سې کور درنه په کرایه حواله کړي چې د مرګ په سر به شپه تېروي ...

[illegible]

THE DAILY WAHDAT PESHAWAR
ورځپاڼه پېښور
وحدت

APNS
په ټول ملک کښې د پښتو ورځپاڼه
ABC CERTIFIED
ورځپاڼه
THE DAILY WAHDAT PESHAWAR
پېښور
وحدت
چيف ايډيټر: پير سفيد شاه همدرد
14 فروري 1998ء، جلد 23

# اسلام دښمنه قوتونه دې خپلو سازشونو نه لاس واخلي، عبدالجليل ملنګ

## افغانستان کښې دلوبو طاقتونو دمفاداتو جګړه روانه ده، دغلته دامنيت خوب ليدل ممکن نه دی

## ټولو ترېو الوطاقتونو ټل زمونږ د کمزورۍ کولو کوششونه کړي دي، وحدت سره مرکه

پېښور (وحدت خبرنال) افغانستان کښې د ټولو جنګونو بنياد خارجي لاس وهنه ده او بايد اسلام دښمنه قوتونه د خپلو سازشونو نه لاس واخلي دا خبرې د کونړ د سيمې قامي مشر او د پارلمني دورې ترجمان وکيل عبدالجليل ملنګ وحدت سره په يوه مرکه کښې کړي دي. ده ووئيل د افغانستان خاوره چې په تېرو اولسو کالو کښې د کومو حالاتو سره مخ شوې ده دا اوس د افغانانو لپاره چرې هم د هيرېدلو نه دي او د دومره وخت تېرېدو باوجود نن هم په دغه خاوره د امنيت خوب ليدل ممکن نه دي دا ځکه

باقي صفحه اخر ځنوره کالم

### باقي : عبدالجليل ملنګ

چې په افغانستان کښې د لويو طاقتونو د مفاداتو جګړه روانه ده او تر څو پورې چې د بولوت طاقت نه وي کم شوی او د هغوی ذاتي مفادات نه وي پوره شوي تر هغې به د افغانستان حالات کړکيچن وي ملنګ زياته کړه زمونږ بدبختي دا ده چې مونږ د تاريخ په اوږدو کښې کله هم د غان پيوندلو کوشش نه دی کړے ملکي هسته سود ټل به خپره پاورا واعتبار کړے دے او ټولو ترېوالو طاقتونو زمونږ د کمزورۍ کولو کوششونه کړي دي ده زياته کړه چې د تخار پېښه زمونږ د عملونو نتيجه ده څه سود ورانده چې بې شمېره بې ګناه طالبان ووژل شول نو ټولې نړۍ د دې عمل غندنه وکړه په دغو طالبانو کښې د هرځا بچي شامل وو او

---

پېښور
وحدت

# د پښتو لار

ډاکټر کبير ستوري

مينه مې د ښکلو هم په سر سترګو منلې ده
خو مينه د وطن مې ټولو مينو کښې ښاغلې ده
مينه خو يو حس دے د جسمونو پيوستون نه دے
زړه د ميني کور دے مينه زړه کښې غوړېدلې ده
وينه مې په زړه کښې د وطن په مينه مسته ده
تن کښې مې جذبه د قامولۍ راپارېدلې ده
سوچ کښې مې ورمه د ازادۍ او سوکالۍ شته دے
ملا مې د پښتون ملت يو والي ته تړلې ده
لمه د پار غيرته بې پروا د کړنګونو نه
مينه پښتنه مې په ځوانۍ باندې راغلې ده
ژوند به شي زلمے د ازادۍ ناوې به راولم
لار به مې د نيکونو د پښتو ورته نيولې ده
ستورے د سبا يمه ځليږمه د غرو په سر
ژوند ته پلوشه د پښتونولۍ مې ښندلې ده

13/4/2007

روزنامه وحدت پښور

13 April 2007

# په زړه کښې ماته پام دستوري په غزل به کوي

د اتوار ورخ وه موسم ډیر خوشگوار ؤ او په دې ورخ مې یوولس بجې امجدخان ته گرین هوټل ښودلےؤ، چې هلته به راشي هلته مې له بل چا سره هم وعده وه خو زۀ چې صدر ته راورسیدم په څۀ شی پسې د یو دوکان مخې ته اودریدم چې له مخې مې حاجی نصیرستورے تیر شو ما ورپسې غږ وکړو مخ ئې راګرځولو ترروغ جوړ وروسته مې ورته ووئیل د صدر بازار د ورخې یوولس بجې او دچا غږ اوریدل او بیا راګرځیدل څۀ عجیبه خبره نۀ ده؟

هغۀ ووئیل ولې د اتوار ورخ نۀ ده څۀ، چې صدر تش پروت دے بنه حاجی صیب کله راغلے ئې؟ خان لـه راغلے ئې کـه ستورے صیب هم درسره راغلے دے؟

په دې خبره حاجی نصیرخان غلے شو، رنګ ئې بدل شو. لکه د پښو نه ئې چې زمکه تښتیدلې وی اخوا دیخوا ئې وکتل یو څو اسویلی ئې وکړل ښکته ئې وکتل لاس ئې په مخ راښکو په تعجب ئې ووئیل: ولې جنرال صیب تۀ خبر نۀ ئې؟

او چې ما څۀ وئیلو تـه خلۀ جوړوله بیانې راباندې یو ډیر بد زیرے وکړو چې زۀ هم هک پک او حیران شوم، ولې جنرال صیب تاسو خبر نۀ یئ چې ستورے صیب وفات شوے دے زۀ نور پوهه نۀ شوم چې د غم ددې لوئې خبر په اوریدو به زما له خلې څۀ وتي وی؟ څۀ به مې وئیلی وی؟ دۀ له به مې د داد خبره کړی وی کۀ نـه کۀ ریښتیا راباندې وایئ همدومره مې یاد دی چې حاجی نصیر ته مې غیږه ورکړه او تر ډیره مې په غیږ کښې نیولے ؤ خو د هغۀ زړۀ داسې سوړے شوے ؤ چې زما په دې تسلی بـه د هغۀ څومره سود شوے وی؟ ما ترې د بیدار ستوری پوښتنه هم ونۀ کړه دے رخصت شو زۀ د وعدې ځاې ته ورغلم امجدخان په هال کښې ناست ؤ زۀ هم ورسره کیښناستم څۀ لږه شیبه وشوه بل میلمه چې د سرګودهې دے کامران صیب هغه هم راغے خو زما طبیعت ډیر خراب ؤ امجدخان رانه پوښتنه وکړه څۀ چل دے موډ دې خراب ښکاری په فون چې خبرې کیدې ډیر برابر وې ما ورته تول حال ووئیلو دۀ بې اختیاره ووئیل ولې هغه خو روغ جوړ ؤ الله دې وبخښی ډاکټرکبیرستورے خو لوئې پښتون ؤ، ډیر ښۀ سړے ؤ تاسو سره د ایران په قونصلیټ کښې لیدلے ؤ تاسو چې ورسره زما تعارف وکړو بیا تاسو د بل چا سره په خبرو بوخت شوئ هغوی له ما سره ډیره مینه وکړه ما ورته ووئیل هغه د ایران قونصلګری نۀ ده هغه د ایرن کلتوری مرکز دے "خانه فرهنګ ایران "بیا د دنیا په خبرو سر شو څکه چې یو د بل له غمه نۀ مری او هسې هم د انسانانو دا زړونه جنګونه بمونو، مرګونو، او وینو توئیدو داسې کلک کړی لکه د غوښې په ځائې چې په زړونو کښې تیږی پرتې وی هغـه څۀ لږه شیبه د دهغه خفګان هغه احساس هغه بیانوی بیا انسان په خپل ژوند او خپلو کارونو پسې روان شی هر څۀ هیر شی بیا څو ورځې وروسته زۀ چرته لاړم هلته یوه غرمه حاجی

## جنرال عبدالصمدمومند

طفیل صیب میلمه کړم او دغه غرمه د ستوری صیب سره سره د خادم صیب ،ریښتین صیب، وزیرمحمدګل خان مومندبابا دوست محمدخان کامل مومند، قلبندرمومند او نورو ادبی شخصیاتو د خدمتونو ذکر وشو ډیرې ګټورې او خوندورې خبرې وشوې هلته حاجی طفیل صیب نور خلق هم راغوښتی وو چې په هغې کښې یو ډیر تاریخی انسان او په هره حواله یو رسیدلے شخصیت حاجی محمداسحاق خان الکوزے ؤ چې دهغۀ سره د هر چا په حواله غوره معلومات وو څۀ رنګ چې ډاکټرکبیرستوری په دغو ورځو شپو کښې په حق رسیدلے ؤ نو ښاغلی الکوزی صیب ئې په ژوند او فن پوره خبرې وکړې په خانګړې توګه دهغوی په یو کتاب (ساپوهنه) باندې.

زۀ چې بیرته خپل هوټل ته راغلم قلم کاغذ مې راواخستو اراده مې وکړه چې زۀ هم په ستوری صیب څۀ ولیکم کۀ څۀ هم چې د ډاکټرصیب حق ادا کول او پوره کول ګران بلکې ډیر ګران کار دے خو په ډاکټرکبیرستوری لیکل د هغې نه هم ګران کار دے څکه چې په لیک کښې به دستوری له ژوند او فن سره انصاف څوک او څنګه وکړی؟ خو بیا د یوسف (ع) او د بوډۍ د پاغوندې خبره رایاده شوه او له خان سره مې ووئیل چې تۀ هم څو کرښې تورې کړه معیاری نۀ سهی خو ولیکه ضرور تر ډیره مې قلم په غاښونو وتکولو په سوچ کښې ناست وم چې څۀ ولیکم او څنګه ئې ولیکم یوه خبره چې ذکر ئې باید وکړم او هغه دا چې د ژوند ډیرو تیرو مصروفیاتو رانه د ادبی دنیا لارې ورکې کړی دی د هغې ژوند چې واقعی ژوند دے له ادب او ادبیاتو سره د تړون لارې رانه ورکې شوی دی اول بیاست بیا کلومت او بزنس رانه قلم د ګتو اخستے دے.

دا څو کلونه مایوه کرښه هم نۀ ده توره کړې البته شاعری چې کله راباندې راووریږی هغه په کاغذ زر زر ولیکم بیا هغه کاغذ اکثر ورک وی نو لیک او لیکل څکه ګران شوی دی .او کۀ په دې لیک کښې هم څۀ کمې زیاتې وی زۀ د هغې هم بخښنه غواړم او بله دا چې ما

وحدت

ورځپانه وحدت پېښور (۵) ۱۳ اپریل ۲۰۰۷

# پام دستوري په غزل به کوي

سره د ارواښاد کبیرستوري د ژوند د حالاتو په اړه هیڅ کتاب نشته او کهٔ دا ووایم چې ددې موضوع خو څهٔ چې د یوې موضوع په رابطه هم راسره کتاب نشته بلکې کهٔ دلته ولټول شي هم د پښتو کوم کتاب به پیدا نهٔ شي.

بیا مې د ځان سره وونیل چې ستورے خو ستورے وی او د ستوري صیب د ژوند او فن په اړه به دومره علمی مقالې لیکل شوی وی چې دا لیکنه نظرماتے حساب او بله دا چې کهٔ ددې پیړۍ ادبی تاریخ لیکل کیږي او دپښتو ادب په حقله خبره کیږي او په هغې کښې د ارواښاد ډاکټر کبیر ستوري ذکر نهٔ وی د هغوي په ژوند او فن خبره نهٔ وی شوی نو دا تاریخ به یو نیمګړے تاریخ وی او زهٔ خو صرف خپل احساسات او تاثرات د کاغذ مخ ته رسوم او دپښتنو دا لوئې ستورے د لیکنې او یادونې محتاجه نهٔ دے هغوی ته لوئې الله یو لوئې مقام ورکړے دے چې دا مقام ترې مرګ هم وانهٔ خستلے شو او مرګ د خپل درانهٔ سیوری لاندې ورک او پټ نهٔ کړے شو مرګ هغه کسان د خپل درانهٔ سیوری لاندې پټ او ورک کړی چې د (کلوا وشربوا) پرته ئې په ژوند کښې بل مقصد او مرام نهٔ وی خو هغه چې د ژوند مرام مقصد او موخه په مخ کښې لری د خدمت جذبه ورسره وی خادم او خدمتګار وی مرګ ئې هم د خپل تول

نور په پنځم مخ

## پاتې: پام دستوري په غزل

زور او قوت سره هم تر خپل درانهٔ سیوری لاندې پټولے او ورکولے نهٔ شي او هغه ژوندی او جاویدان وی ځکه چې د قلم خاوند وی د خپلو خلقو خپلې ژبې خپل ادب خپل کلتور او فرهنګ یو رښتینے خادم وی چې په دې سلسله کښې د یو خدمتګار قلموال او د ادب او سیاست د یو سرخیل ډاکټر کبیر ستوري نوم هم د ستائنې او یادولو وړ دے چې د خپل ژوند ډیره برخه ئې د خپلې خوارۍ خو وياړلی پښتو په خدمت کښې تیره کړه د ادبی او فرهنګی خدمتونو سره سره ئې ډېر ملی خدمتونه هم کړی دی چې تل به په ویاړ سره یادولے او ستائیلے شی د هغوی فن دومره لوئې دے لکه پخپله کبیر ستورے او دهغهٔ نرم مزاج د خدمت یوه جذبه دپښتو او پښتنو سره لیونی مینه دا ټولې داسې خبرې دی چې د شخصیت خاوند ته نور شخصیت هم ورکوی او دې ټولو خبرو او خداداد صلاحیتونو ستورے دومره وځلولو هسک کړو او د خلقو د زړونو تل ته ئې کوز کړو چې نور خو پرېږده چې شاید د کبیر ستوري د تصور نه هم لوړه خبره وی خو زهٔ به دا ووایم چې دا د کبیر ستوري حق ؤ بلکې له دې لار د ډېر درناوی حقدار او مستحق وو.

زمونږ د پښتنې ټولنې ژوند په همدغسې انسانانو پورې اړه لری کومه ټولنه چې د ډاکټر کبیر ستوري په څیر شخصیات نهٔ لری هغه ټولنه او خلق ژوند نهٔ لری هغه خپله پېژندګلوی نهٔ لری، خپل تشخیص نهٔ لری او زهٔ به دا ووایم چې هغوی تاریخ نهٔ لری او کله چې تاریخ د یوې ټولنې په باب قضاوت کوی د هغې اتکا په عملی شخصیاتو وی او کهٔ د کبیر ستوري په څیر دا ادبی هستۍ نهٔ وې نو نن به دپښتنو او پښتو ادب څهٔ حال وے. خو دا د دوی او د دوی په څیر د نورو ادبی هستیو هڅې دی چې پښتو او پښتو ادب په نړیوال کلی کښې هسک سر ولاړ دی.

پښتو او پښتانهٔ بختور دی چې الله پاک ورته داسې مشنان ورکړی چې ساری نهٔ لری ثانی او مثال نهٔ لری او دا ټول د ویاړ او ستائنې وړ دی او په پای کښې د ډاکټر کبیر ستوري د زړهٔ د تل دا سندریز پیغام دا زرین ټکی او حرفونه:.......

چې پښتونخوا ته پسرلی د پښتونوالې راوړی
په زړهٔ کښې ماته پام دستوري
په غزل به کوې

چارشنبه ۹ اکتوبر ۱۹۹۶ء

THE DAILY WAHDAT PESHAWAR

ورځپاڼه پېښور

وحدت

# دَوحدت پهٔ نوم



محترم مدیر صاحب

السلام علیکم ورحمة الله

تاسو چې کوم خدمت پښتو ژبې ته کوئ دهغې نه هیڅ یو حقیقت پسند پښتون سترګې نهٔ شي پټولې ستاسو اخبار د پښتو ډال دے او د روسي افغان جنګ په وخت وحدت پخپله ډیر لوئي جهاد کړے دے. سونږ لاس په دُعا یُو چې لوئې خدائی ج دې روغ وساته. د خپلې ژبې خدست ته دې چې کومه

ملاتړلې ده په دې کښې دې خدائی برے او کامیابی در کړی. محترم پیرصاحب دغه زمونږه یوه بیانیه ده چې د پښتون سوشل ډیموکریټ ګوند لخوا د جرمنی نه خپره شوې ده هیله مند یُو چې نشر ته ئې وسپارئ.

زمونږ ګوند د ډاکټر نجیب الله اؤ دهغهٔ سره دنورو په وحشیانه توګه وژلو باندې د غم اؤ غُصې اؤ افسوس اظهار کوی چې دغه قتل غیر انسانی، غیر اسلامی اؤ غیر افغانی عمل وُ. ډاکټر نجیب د ملل متحد په دفتر کښې پناه اخستې وه چې دغه نمونه خلق د ملکی قانون لاندې نهٔ راځی. خو دطالبانو ولې دملی روایاتو اؤ بین الاقوامی تعلقاتو هیڅ خیال ونهٔ ساتلو. دوی یوٰ بین المللی پناه اخستونکے بهانسی کړو. چې دې سره د طالبانو دانتها پسندی صفا درک معلومیږی. پکار خو دا وُچې دوی مقدمه حلولې وے اؤ ډاکټر نجیب ته ئې دصفائی پوره پوره موقع ور کړې وے حې دصفائی حق زمونږ داسلامی مذهب بنادی ځشته ده. دوی نهٔ اسلامی کار وکړو اؤ نهٔ افغانی.

دډاکټر نجیب قتلول یو سیاسی عمل وُچې افغانانو اؤ پښتنو کښې ددامسې کار بدل وی، دطالبانو مشران به ددې بدل نهٔ هیڅرې خلاص نهٔ شي. ځکه چې دغه داسې داغ دے چې دوی ئې وینځلے نهٔ شی. سونږ دطالبانو

مشر مولوی عمر نه غوښتنه کوو چې دډاکټر نجیب قاتلان دې ګرفتار کړی اوعدالت کښې دې وړاندې مقدمه وحلوی. کهٔ چرې دطالبانو مشران دغه کار نهٔ کوی نو بیا سونږ داقوام متحده دلوئې سکتر بطروس غالی نه غوښتنه کوو چې دوی دې دطالبانو د مشرانو خلاف بین الاقوامی وارنټ ګرفتار جاری کړی اؤ دانټرپول په ذریعه دې دوی ونیول شی اؤ بین الاقوامی عدالت هیګ هالینډ کښې دې مقدمه پرې جوړه شی چې اقوام متحده خپل وجود ثابت کړی، داځکه چې ډاکټر نجیب دیو این او پناه ګزین وُنو طالبانو دغه کار داقوام متحده سره وکړو. کهٔ چرې اقوام متحده دنجیب پوښتنه ونکړه بیا ددامسې اداري ضرورت هم نشته چې څوک د خپل پناه ګزین تپوس نهٔ شي کولے.

دغه به یو خطرناک روایت جوړ شی. هرځائې به بیا داسې خلق راپورته کیږی. بغیرمقدمې نه به قتلونه کوی چې دغه کار زمونږ په نظر د اسلام اؤ انسانیت دپاره ډیر خطرناک دے، زمونږ ګوند په دې عقیده دے چې افغانستان کښې ډیر ګوندیز سیاست موثر دے چې څوک دټول واکی حاکمیت کوشش کوی هغه کهٔ مذهبی ګوندوی یا کمونستی مونږ ئې په سختی سره ردوو. باید افغانستان کښې زرترزره دډیرو ګوندونو په بنسټ انتخابات وشي چې افغان اولس د خپلې خوښې ګوند ته رائې ورکړی. یو ګوندی سیاست نه به تیر وخت کښې اونهٔ راتلونکی وخت کښې هیواد کښې امن راوستے شی.

زمونږ ګوند دښځو دجانزو حقوقو بوره بوره ملاتړ کوی علم په اسلام مقدس دین کښې په ښځه اؤ په نر فرض دے څوک چې ددې نه سرغړوی دغه نهٔ اسلامی کار کوی اؤ نهٔ انسانی، زمونږ ګوند دربانی حکومت اؤ د تاجکستان دحکومت هغه لوظنامه ردوی چې دوی بدخشان کښې پنځه ویشت کیلو میټره پلنه پټی افغانی خاوره کښې تیره کړې ده. دغه یوٰ داسې کار دے لکه کوم چې اسرائیل په لبنان کښې کړے دے. ددې پټی مطلب داسې دے چې روسی فوځیانو ته به حق حاصل وی چې تر پنځو پشتو کیلومیټرو دننه به افغانی بدخشانی خاوره کښې د تش په نوم ورانکاریو او قاچاقبارانو خلاف کاروائی کولے شی. دغه لوظنامه دافغانی ملت داستقلال دپاره لویه خطره ګڼو. باید دغه لوظنامه ختم اعلان شی. دافغانی بدخشانی خاورې ذمه وار افغان اولس دے، نهٔ په تاجکستان کښې ناست روسی فوځ دے. دغه دربانی سقاوی اخری خیانت وُ. چې دافغان ملت سره ئې وکړو. سونږه یوٰ ځل بیا د ډاکټر نجیب اؤ ددهٔ دملګرو وحشیانه وژل غندو، اؤ دغه نمونه سیاست چې هرڅوک کوی مونږ ئې نهٔ منو، افغانان ډیر سړه اؤ تباه شول اوس ورته دروغې جوړې ضرورت دے.

په درناوی

لهٔ طرفه د پښتون سوشل ډیموکریټک ګوند جرمنی

علي خان محسود

ABC CERTIFIED
THE FIRST PUSHTO DAILY OF PAKISTAN
MEMBER A P N S

په ټول ملک کښې د پښتو ورومبی ورځپاڼه

پېښور
ورځپاڼه

# وحدت

چیف ایډیټر
پیر سفید شاه همدرد

رجسټرډ پي نمبر 27

دوشنبه (پیر) ورځ، 24 صفر المظفر 1426هـ ق، 15 وری (حمل) 1384هـ ش
4 اپریل 2005ء، 21 چیتر، 2061ب، جلد 30، شماره 91، بیعه 4 روپی

## پېښور کې ته وده تل شاعرانو ورکړېده پښتو ادبي کانفرنس اعزاز

### تراوسه چې څومره حکمرانان راغلي دي هغوی پښتنو او پښتو سره زیاتے کړېدے

پېښور (وحدت خبر) د پښتو د ژبې او ثقافت د پرمختګ او ترقۍ لپاره د یو منظم تحریک ضرورت دے زمونږ په ملک کښې څومره حکمرانان چې راغلي دي دوی تل د پښتنو او پښتو سره زیاتے کړے دے په دې ملک کښې چې څومره سیاسي سماجي افتونه راغلي دي هغې کښې د سیاستدانانو هم غټ لاس دے خولې په ملک کښې د معاشي بدحالۍ، خودکشیو په شرحه کښې اضافه او کلاشنکوف کلچر په وده ورکولو کښې حکمرانانو کردار هم ادا کړے دے دا خبرې تیره ورځ د پښتو عالمي کانفرنس د منتظمینو په اعزاز کښې شاعرانو، ادیبانو او دانشورانو وکړې، دد ستورې مشرۍ مرکزي افغان ادب عبدالله پختاني وکړه او ډاکټر کبیر ستورې، حبیب الله رفیع، درویش دراني او نورو تقریرونه وکړل

ورځپاڼه پېښور
THE DAILY
WAHDAT
PESHAWAR
وحدت
چارشنبه 5 جولائی 2006ء
چیف ایډیټر: پیر سفید شاه همدرد

# ډاکټر کبیر ستوري او سندریز پیغام

## لیک: فیروزخان صادق

> رواښاد ډاکټر کبیر ستوری د ژوند شاعر دی او د ژوند شاعر کله هم نهٔ مری بلکې چې ترڅو ژوند وی نو تر هغې به د هغهٔ فن هم ژوندی وی او هر پښتون به دخپل دغه اتل شخصیت په کار او زیار ویاړ کوی او ددهٔ خدمتونو ته به د ستائنې او ډاډګیرنې امیلونه په غاړه کوی

.خدای بخښلی ډاکټر کبیر ستوری د پښتون قام او ژبې په دنیا کښې یو داسې قدآور او معتبر نوم دے چې دشخصیت فکر او فن اوازې او انګازې ئې په هر لور خورې ورې دی او د هر چا په زړهٔ کښې ئې ځان ته ځاې جوړ کړے دے دهغهٔ سپین سپېځلے شخصیت روڼ روښانه تندے خوږه او پسته لهجه په خبرو کښې دپوهې او علمیت نخښې مهذب او مودب انداز د هر چا احترام او هر چا سره مینه دخپل قام او ژبې د خوشحالۍ او سوکالۍ دپاره هر وخت هلې ځلې د تعلیم د اهمیت او افادیت نه خپل قام خبرول د نوموړی د ژوند تر ټولو لوئې مرام ؤ.

ارواښاد د لوړو زده کړو نه پس د جرمنی په هیواد کښې د ډاکټرۍ پیشه خپله کړې وه چې غوښتل ئې له هم دې لارې ځځه د انسانیت خدمت وکړی او کهٔ چرې مونږ د ډاکټر ستوری په ژوند نظر واچوؤ نو هغه پخپل دغه نیک مقصد کښې تر ډیره حده پورې بریالی ثوب ترلاسه کړے ؤ. هغه یو مستقل مزاجه انسان ؤ ځکه نو په سفر او حضر داخل او خارج شپه او ورځ غرض دا چې هر وخت د خپل ټول خوبونه ارامشونه او سهولتونه قربان کړی وو هغه د پښتون قام د یو والی تعلیم ترقۍ او خوشحالۍ ډیر ارمانی اوداعی ؤ. او هم له دې مقصد دپاره ئې دلیک لوست موثره او معتبره خپل مقصد حیات دپاره متحرک ؤ او هغه د انسانیت د خدمت ترځنګ د خپلې ژبې ادب او خپل قام د پرمختګ او ښېرازۍ فلسفه وه چې نوموړی ددې غرض دپاره لاره خپله کړې وه او بیا ئې د خپل قام د اسانۍ دپاره د ادب دواړه څانګې نظم او نثر خپل کړی او غوره کړی وو په ذهنی توګه هغه یو انقلابی او بالغ نظر شاعر ادیب ؤ په جسمانی توګه هغه نسبتاً کمزورے ؤ خو خونې ئې دروند او خصلت ئې مضبوط. طبعاً هغه یو چست او چابک سړے ؤ مزاج ئې نرم او نفیس ؤ خبرې ئې خوږې هم وې او درنې هم بلکې ټولې خبرې ئې دکار وې بنیادی طور یو بې ا زاره او بې ضرره ؤ او د هر چا سره ئې تعلق او تړون بیخی بې غرضه او بې لالچه ؤ پخپله ئې تعلق د پښتنو د یوسفزو قبیلې سره ؤ خو په مجموعی توګه هر پښتون ئې د سترګو تور اود زړهٔ ټکور ګڼلو.

هم دغه وجه ده چې خپل ټول ژوند ئې د پښتو او پښتنو دپاره بخښلے ؤ. او کهٔ هغه هر څو د جرمنۍ غوندې کاروباری ملک او مادی ماحول کښې اوسېدو بلکې هغه په بنیادی توګه د دوؤ پیسو ګټلو

| |
|---|
| باقي : ډاکټر کبیر ستورے |

په خاطر د مسافرۍ دغه اذیت ناک او کړیناک ژوند ته غاړه اېښې وه خو سره ددې ئې خپل قام او خپله ژبه یو ساعت هم له خیاله نهٔ ده وېستې او دجرمنی ځخه ئې هم د پښتو مطبوعاتو پښتنو شاعرانو، ادیبانو، صحافیانو او نورو اړوندو کسانو سره برابر تماس نیولے دے بلکې په دیار غیر کښې ئې دپښتنو د ترقۍ شناخت او پرمختګ په خاطر دپښتون سوشل ډیموکریټک پارټۍ جوړه کړې وه چې دخپل قام او ژبې دخدمت په اړوند ئې ډیر فعال او یادګار رول لوبولے دے هم په دې دوران کښې به چې هر کله په افغانستان، پاکستان یا بل کوم هیواد کښې کومه غونډه جوړه شوه نو ډاکټر کبیر ستوری به ارو مرو ځان ور رسولو او دخپل قام او ژبې د نمائندګۍ حق به ئې ادا کولو.

په تیره بیا کله به چې پېښور ته راغلو نو دلته به ئې خامخا په ادبی او ثقافتی غونډو کښې هم ګډون کولو او ددې ځاې د شاعرانو، ادیبانو، هنرمندانو او صحافیانو نه علاوه به قام پرستو سیاستمدارانو سره هم ئې لیدل کتل کول او د دوی سره به ئې دپښتو ژبې او پښتون قام په موجوده حالاتو اوږدهٔ اوږدهٔ علمی بحثونه کول. او هم دغه ادبی او ثقافتی تعلق او تړون ؤ چې:

باقي برخه بله پاڼه کې

# ډاکټر کبیر ستوري او سندریز پیغام

لیک: فیروزخان صادق

پاتې برخه

وحدت

دستوري فکر او فن ته ئې لاتوره ښکلا او خلاور کړې وه. او هم دغه Coommitment ؤ چې ستورے ئې پخپل مقصد کښې د بریالیتوب تر مقامه رسولے ؤ. او دهغهٔ په فکر او پوهې کښې د پوخوالی او پرخوالی سبب ګرځیدلے ؤ. د اروابښاد د خبرو اکثر موضوع به دپښتون قام ماضی، حال او مستقبل ؤ. هم په دې موضوع به ستوری د هر چا سره بحثونه کول د هر چا وړاندیزونه او دلیلونه به ئې په ډیره توجو او رغبت سره اوریدل. او بیا به ئې تري د ضرورت په وخت استفاده هم کوله.

هر کله چې د پښتنو په لوئې کور افغانستان روسی یرغلګرو تیرے وکړو او سمسور افغانستان ئې د بارودو په شنو لوخړو کښې لولپه کړو نو د یو افغان په حیث ډاکټر کبیر ستورے هم په دغو لوخړو کښې در په دیکه شو او دحالاتو دغه طوفان ډیر وخوځولو او وې ځنګولو خو دحالاتو مقابله ئې ډیره په جرات او استقامت سره وکړه. په قول د رحمان بابا (رح) چې:

لکه ونه مستقیم پخپل مقام یم

کهٔ خزان راباندې راشی کهٔ بهار

او بیا هر کله چې د جهاد په مقدسه فریضه ترسره کولو افغانانو خپل دښمن ته ماتې ورکړه نو لکه د نورو افغانانو کبیر ستورے هم خوشحال شو په دې هیله چې زمونږ هیواد به یو ځل بیا نسمسور شی خو متاسفانه چې د روسی تیری نه پس افغانستان کښې خپل منځی جنګونه شروع شول او بیا افغانستان داسې لوټې لوټې شو چې په کندواله یاد شو خو ستوری

بیا هم همت ونهٔ بائیللو او په قول د خوشحال خان خټک چې:

کهٔ اسمان دې د زمری په خلهٔ کښې ورکړه

د زمری په خلهٔ کښې مهٔ پریږده همت

هم دا وه چې افغانستان د دریو لسیزو د غرغندو او بربادیدو نه پس یو ځل بیا د ابادۍ او سوکالۍ په طرف روان شوے دے. او ننس نس افغانان دهجرت نه پس اوس خپل وطن په ډیر عزت او درناوی را ستنیږی. او هیله کیږی چې ډیر زر به ټول افغانان خپل هیواد ته راشی او دخپل وطن د بیا ودانۍ په کارونو کښې به خپله برخه واخلی او د ډاکټر کبیر ستوری مرحوم روح ته به سکون او راحت ورسوی. او د یو ډاکټر کبیر ستوری روح ته نهٔ بلکې د ټولو شهیدانو روحونه به خوشحاله او خندان شی.

د ډاکټر کبیر ستوری شخصیت ګڼ اړخونه او رخونه لری ځکه نو دهغوی په شخصیت نور هم ډیر څهٔ وئیلے او لیکلے شی خو دلیک طوالت مې دلاړې خنډ جوړیږی ځکه نو دشخصیت او فکر متعلق ئې په ذکر شوؤ خبرو اکتفا کوم او بیا دفن یوه اجمالی خاکه ئې دلته د مثال په ډول ذکر کوم اروابښاد ډاکټر کبیر ستورے لکه چې مخکښې وئیل شوی دی چې د یو ښهٔ انسان سره سره یو ښهٔ شاعر او ادیب هم ؤ او بیا د نظم او نثر دواړو په حواله ئې خپل یو شوم لرلو اوتر دې وخت پورې ئې د نظم او نثر تقریباً څهٔ یو درځن کتابونه لیکلی دی چې پکښې زیاتره چاپ شوی هم دی او دا وخت ئې شعری مجموعه سندریز پیغام زما مخې ته پرته ده چې رنګینه سرپانه معیاری کاغذ ۱۴۴ مخونه لری چې په کال ۲۰۰۲ء

کښې د پښتونخوا د پوهنې ډیره پیښور لخوا په دانش کتابتون کښې چاپ شوې ده ترڅو ئې د پښتو د نوموړی شاعر او ادیب ښاغلی لائق زاده لائق په نوم شوے دے او سریزه ئې ښاغلی پروفیسر اباسین یوسفزی لیکلې ده چې پکښې ئې د ښاغلی کبیر ستوری د فکر او فن ښه کوټلې جائزه اخستې ده.

هر کله چې مونږ د اروابښاد کبیر ستوری ددې شعری مجموعې مطالعه کوؤ نو را ته ددهٔ د فن ګڼ رنګونه او قسمونه په نظر راځی چې پکښې مینه، محبت، میړانه، جرات، پښتونولی، وطن دوستی، لوظ، حسن او جمال، غم د جانان او غم د دوران، لنډه دا چې د ژوند په هر اړخ پکښې شعرونه په نظر راځی چې یو طرف ته دشاعر په فهم او فراست دلالت کوی او بل طرف ته زمونږ د تکورونو کار کوی.

د کتاب وړومبے شعر ئې دا دے:

ګناه د بل چا نهٔ ده دا زمونږ خپله ګناه ده

پښتو پښتونولۍ ته اړولې چې مو شا ده

ددې شعر نه دا اندازه په اسانی سره لګیدے شی چې ښاغلے شاعر پخپل قام او خپله ژبه څومره مئین دے ځکه چې صرف دا یو شعر نهٔ بلکې پوره غزل ئې د هم دې موضوع نه خار کړے دے هم دغسې ئې په ټول کتاب کښې زیات تر کلام په پښتو او پښتونولۍ مشتمل دے لکه چې یو بل ځاې کښې وائی:

بې پښتو نهٔ شی په پښتو باندې پښتو به کوې

د مینې ستورې ته د خبلې پښتو رنګ ورکړه

او یا دا چې:

چا چې ده لیدلې په ستائیلو ئې مریږی نه

یو خوا ئې ښائست دے بل صفت د پښتو کوی

کهٔ څهٔ هم د ستوری د شاعرۍ مرکز او محور پښتو او پښتونولی ده خو ددې ترڅنګ هغهٔ په هره موضوع قلم پورته کړے دے چې د نمونې څو شعرونه ئې داسې دی:

د عشق کار کښې دهر چا ده بیله برخه

د چا ستورے دے تیارهٔ د چا ځلیږی

د ګل ښائست نه چې په بڼ کښې بلبلان خاریږی

پور دې ورکړے دے کهٔ ګل د ښائست غلا کړې ده

کلی نه وځی خوله اولسه وتل نهٔ منی

تل په تولنیز ژوند کښې انصاف او عدالت غواړی

چې دبخت ستورے مې دعشق اسمان کښې وځلیدو

خدائیګو د کلی لویو وړو راته دعا کړې ده

ددې شعرونو په اساس مونږ دا خبره په ډانګ پیللې کولے شو اروابښاد ډاکټر کبیر ستورے د ژوند شاعر دے او د ژوند شاعر کله هم نهٔ مری. بلکې چې ترڅو ژوند وی نو تر هغې به د هغهٔ فن هم ژوندے وی او هر پښتون به دخپل دغه اتل شخصیت په کار او زیار ویاړ کوی او ددهٔ خدمتونو ته به د ستائنې او داد ګیرنې امیلونه په غاړه کوی.

ما وې چې زهٔ به د جانان ښکلے تصویر جوړؤم

زهٔ اعتراف د عجز ؤ فن کړم ما تصویر جوړ نهٔ کړو

ورځپانه
THE DAILY
WAHDAT
PESHAWAR
پېښور
وحدت
چیف ایډیټر: پیرسفید شاه همدرد
پوروخ، یکم شوقدر ۱۴۱۸ هق، ۱۰ لیندۍ (قوس) ۱۳۷۶ هـ ش، یکم دسمبر 1997ء، جلد12، شماره325

# اجمل خټک د پښتنې ټولنې ادبي شتمني

لیک: ډاکټر کبیر ستورے

د نړۍ په سر د انسان ژوند محدود دے خو ځینو انسانو دومره غټه معنوي شتمني جوړه کړې وي او ټول ژوند ئې معنی ګرځېدلے وي چې د مرګ د قید څخه ازاد وي او تل ژوندي وي. په دې ډله انسانانو کښې اجمل خټک هم راځي چې په 1927ء کال کښې په اکوړه خټک کښې د حکمت خان په کور کښې پېدا شوے دے. دے اوس بوډا کلن دے خو د پښتون اولس په خدمت کښې نه ستړې کېدونکي ستړې تړې وهي اجمل خټک یو ډېر ارځښت سرپټوب (شخصیت) دے او د پوهنې، فلسفې، سیاست او ادب په ډګر کښې یې ساری جګ مقام لري. د اجمل خټک د سرپټوب ټول ارخونه په یوه مقاله کښې راټولول



ګران کار دے له دې کبله یو څو مهمو ټکو ته ځغلنده نظر اچول کېږي اجمل خټک د باچا خان «فخر افغان» د لارې ملګرے او د خدائي خدمتګارو د تحریک کره ستنه وه.

باچا خان که څه هم د ستر خان زوی و خو ناسته ولاړه ئې د مزدور د طبقې او غریبانو سره وه. باچا خان د ښکېلاک (استعمار) په مقابل کښې د پښتو په یوه مرکز د راغونډولو د پاره دا سیاسي نعره پورته کړې وه چې «که سپوره وی که پوره وی نو به شریکه به وی» ترڅو چې د مزدور د طبقې هغه اندېښنه د منځه یوسي چې که مونږ د ښکېلاک د زبېښاک (استحصال، استعمار) څخه ځان خلاص کړو نو بیا به مو خپل خانان ملکان زبېښي. د باچا خان دا نعره د پښتنې ټولنې څخه اوبه اخلي، شریک ملکیت د پښتنې ټولنې د ودولا تر اوسه ډاګ، غرا او جبه د پښتنو په ځینو منطقو کښې شریک ملکیت دے. اجمل خټک د باچا خان دا سیاسي نعره خپله سیاسي فلسفه وګرځوله او د ادب په رنګینه جامه کښې ئې راونغاړله او په دې توګه ئې د خپلو ملګرو شاعرانو او لیکوالانو سره یوځائې قامي طبقاتي ادبي خوځښت (تحریک) روان کړو. قامي طبقاتي خوځښت یا مبارزه د کمیونستي یا سوسیالستي طبقاتي خوځښت یا مبارزې سره توپیر لري. د قامي طبقاتي مبارزې هدف د یوې خوا د ښکېلاک د زبېښنې څخه د ټول قام خلاصون او د بلې خوا د قام په منځ کښې د تضادونو د منځه وړلو په غرض د ټولنې د ټول عائدات عادلانه وېش دے چې ټولنیزې ولسوالۍ (سوشل ډیموکراسي) سره ورته والی لري. په نورو تورو سره د قامي طبقاتي مبارزې هدف د ټول قام ګټه او سوکالي ده چې د

نور په دریم مخ

THE FIRST PUSHTO DAILY OF PAKISTAN
په ټول ملک کښې د پښتو ورومبې ورځپانه

پاتې: اجمل خټک

ټوې خوا بهرنی تضاد چې د ښکېلاک سره ئې قام لري د منځه وړي او د بلې خوا د قام په منځ کښې د ننی تضادونه مزدور طبقې ته د پېداوار او (تولید) په وسائلو کښې د عادلانه برخې د ورکولو په واسطه د منځه وړي. د کمیونستي طبقاتي مبارزې هدف د ټول قام ګټې نه دي بلکې صرف د مزدور د طبقې ګټې دي چې په هیواد (سټیټ) باندې د مزدور د طبقې د قبضې او حاکمیت د لارې د پېداوار وسائل په لاس کښې اخلي چې د قام په منځ کښې تضادونه د منځه نه ځي بلکې شکل او بڼه بدلېږي.

نن ورځ قامي طبقاتي ادبي خوځښت په پښتنې ټولنه کښې ډېر پراخوالے موندلے او زیات شمېر شاعران او لیکوالان په دې ادبي خوځښت کښې د قام د هوسایۍ او ابادۍ په لور اوچت ګامونه اخلي.

قامي طبقاتي ادبي خوځښت د ادبي بهیر په منځ تللی (مترقي) بهه ده چې خپلو قامي ارزو ګانو ته په نړۍ وال ډګر کښې ژوند وربخښي له دې کبله د دې خوځښت چلونکو شاعرانو او لیکوالانو ته قام پرسته مترقي شاعران او لیکوالان هم وئیل کېږي. اجمل خټک د قامي طبقاتي ادبي خوځښت د بنسټ ایښودونکي په توګه د پښتنې ټولنې ابدي شتمني ګرځېدلې ده. د اجمل خټک د شعرونو او لیکنو ټولنیز ارزښت په دې کښې پروت دے چې د قام د ویښولو او پوهولو وسیله ده. قامي سیاسي نظرې او پیغامونه یې کښې په داسې انداز کښې خوندي شوي دي چې د شعر او ادب ښکلا او هنر یې کښې ښه او د ودې جګ پړاو ته رسېدلې دي. دلته ئې د شعر یو بیت د بېلګې په توګه وړاندې کوو.

تاسو د غیرو د کلچر پړقا کښې هر څه هېر

کړل

زه ثقافت سود نیکه د غیرت رنګ ګڼمه

اجمل خټک د ادیب فاضل او پښتو فاضل د ازموینو وروسته د پېښور په پوهنتون کښې د ادبیاتو په څانګه کښې د ماسټرۍ درجه ترلاسه کړې ده. په پښتو ژبه ئې ډېر کتابونه لیکلي دي چې ځینې ئې دا دي. د پښتو ادب تاریخ، د غیرت چغه، پاتوره ته عقیدت، دا زه پاګل وم، ژوند او فن، کچکول، مونږ او منزل، فکر او عمل، عوامي جمهوري تحریک، د وخت چغه، ګلونه تکلونه، ګل پرهر، سرې غنچې.

اجمل خټک پښتون قام ته د خدمت په لاره کښې ډېرې سختې تنګی لیدلې دي د پېښور، مچ ډېرو او جهلم جیلونه ئې بېلګې دي دے پنځلس کاله (1973-1988) په کابل کښې د هجرت ژوند کولو ته مجبور شوے وو خو هلته ئې هم د پښتو او پښتونولۍ ورمې هرې خوا وشیندلې او ذهني اوښتون (انقلاب) ئې په تېره بیا د قام په ځوان کول (نسل) کښې راوستو.

د اجمل خټک د صدارت په وخت کښې د عوامي نیشنل پارټۍ او قام پرستو پښتو په هلو ځلو سره د پښتونخوا د قرارداد منظورېدل ستر سیاسي بریے او تاریخي ویاړ دے چې د باچا خان او خان بابا ولي خان د نظریو ډېره بله ساتې.

دوشنبه (کل) ۲۶ جنوري ۱۹۹۸ ء
THE DAILY WAHDAT PESHAWAR
ورځپاڼه پېښور
وحدت

## مرحوم سلنګ جان

لیک: عبدالبصیر بیدار

د پښتو ژبې په اولسي ادب کښې اولسي شاعري ځانګړے مقام او ډېر لرغونے (زوړ) تاریخ لري او داسې اټکل کېږي چې تقریباً څلور سوه کاله بخوا د پښتو اولسي شاعري نښې راڅرګندې شوې دي. ټولنه د اولس څخه تشکیلېږي او چاپېریال (ماحول) اولس په یوه خاصه دائره کښې رانغاړي نو بیا چې کوم شاعر په هره ټولنه او چاپېریال کښې سترګې غړوي، نو د ژوندانه د ښو بدو، ټولو کړو وړو، جذباتو او احساساتو ترجماني خپل اولس ته د شعر په شکل تحفه کوي ځکه شاعر د همدغه اولس او چاپېریال نه الهام اخلي.

سلنګ جان هم همدغه ستر، نوساله په پښتو او پښتونولۍ مئین باوړے اولسي شاعر وو چې په دولسي ... ډېرو کالو کښې د ننګرهار د ... سیمې په جبار کلي کښې زېږېدلے وو. د سلنګ جان اصل نوم محمد امین وو او روسته امین جان او بیا په کښې سلنګ جان شو. پلار ئې عبدالشکور نومېده او په بېخلس کلنۍ کښې ئې په شعر ویلو پیل کړے وو. سلنګ جان تعلیم (زده کړه) نه ده کړې او د ژوند زیاته برخه ئې په مزدورۍ او غریبۍ سره تېره شوې په دبارلس سوه اتلوښتم هـ ش کال ورته د صدر اعظم سردار محمد داؤد خان له خوا د لیک لوست د زده کړې لپاره زونکے وګمارل شو او د همدغه څخه ئې په شېږو ورځو کښې ډوېر څه زده کړل چې خپل شعرونه به ئې تور پخپله لیکلے او لوستے شو نه دې ځکه محکښې ئې له قرآن مجید څخه برنه لوست زده کړه نه ده زلودا او خپل هر شعر به ئې خپلو ښدرغاړو شاګردانو ته په یاد ... زده، داوه مرحوم سلنګ جان د دري خلونستو کالو په عمر د کابل ښار په لارډ ... کنډو په وخت د خپل دري کلن زوي دواجان سره یو ځائې شهید شو. د سلنګ جان د شعرونو مجموعه "خوږې نغمې" دري ځله چاپ شوې چې لسیزے ځل ئې د افغانستان د پښتو ټولنې له خوا په دیارلس سوه پنځه دېرش کښې دوهم ځل په دیارلس سوه اته شپېته کښې او دریم ځل د نوؤ زیاتونو سره د علامه سید جمال الدین افغاني د ټولنې له خوا په دیارلس سوه اویا هـ ش کال کښې چاپ شوے دے.

مرحوم سلنګ جان د پښتو ژبې په اولسي شاعري کښې ډېر ستر نوم لري، دده خوږو شعرونو ته په پښتني ټولنه کښې په ډېره درنه سترګه کتل کېږي ځکه چې دده ټول شعرونه د هېواد په مینې او د پښتونولۍ د سپېڅلي احساس په بنسټ ولاړ دي نو ځکه خو ئې په خوږو شعرونو د پښتو ډېرې او حجرې تل ګرمې وې. د سلنګ جان خوږې نغمې د پښتو سندرغاړو په خوږو اوازونو د پښتونخوا هر کلي ته رسېدلي دي. د همدغه شعرونه د پښتو موسیقۍ سره په ښه ډول اړیکي لري ځکه د همدغه په شاعرۍ کښې د پښتو شعري ادب ټول صنفونه (فورمونه) لکه څلوربېزه (چاربیته)، غزل، رباعي (مقام) لوبه (سروکي)، داستان (قیصه) او نور شته همدغه بواړې دا چې په پښتو موسیقۍ کښې ئې نوي طرزونه او تالونه رامنځ ته کړل ملکې پښتو موسیقۍ ته ئې لا زیاته ښکلا، نوے فکر، نوے انداز، ملي او پښتني روح وربه برخه کړو همدا رنګه د همدغه په ټوله شاعرۍ کښې د هېواد مینه، د خپلواکۍ جذبه، د نووالي پیغام، د علم زیاتې، پښتني غیرت، توره، مېړانه، د ټولنې په خرابو اتفاق، او د قام د بیدارۍ احساس په جوښه سره څرګندېږي او پښتني غیرت ته داسې اشاره کوي.

د پښتون ځینه د غیرت ځینې ده د ته نه ننګ او شجاعت ځینې ده
پښتنه چا ته خپل بدل نه پرېږدي
ځان د دښمن مخکښې خجل نه پرېږدي

یا چې وائي

تا زېښتوب د پښتو طبعي عادت وے
ملي ملي چې رښتیا سره پښتون وې

سلنګ جان چې هر څومره د پښتنو د بې ساري صفتونو یادونه کړې نو له دې سره ئې د پښتنو بې اتفاقي ته د انتقاد ګوته نیولې

ګوندي نفاق نه په اسان کړي پښتون
د اتفاق په لور روان کړي پښتون
تمام عمر زموږ تېر شو په غفلت کښې
څه حاصل به کړو نفاق او عداوت کښې

د سلنګ جان دا ښه عقیده وه چې پښتون همغه ښکالے او یا نو قام وے چې هر غاصب او یرغلګر ته ئې په ډېره سړانه غاښ ماتوونکے ځواب ورکړے نو ځکه خو ئې ټولي، خوږې نغمې نه پښتو ورسو پتنی دي. همغه د پښتو د ملي وحدت او یووالي نه په ډېر د وطن ترقي او سرلوړي نو ناسوے کار ګڼي او پښتانه ئې دې ته هڅولي چې خپل ویده غیرت راویښ کړي او د خپل ملي وحدت څپلواکي او ترقي سپاره عملي کاسونه پورته کړي.

راځئ پښتو ورونو چې ملي وحدت تیار کړو
د ژړه په صداقت
نیکونو ته راپاتې دا وطن ګل و ګلزار کړو
ښکاره کړو لیاقت

د پښتونولۍ سره همغه د اسلام محکم سپاهي ځان ګڼي د اسلام د مقدس دین د ښکنځ او څورولو سپاره ئې هم ډېر شعرونه وئیلي دي او د اسلام څخه وروسته پښتونولي خپل اساس بولي

نور به د رټم مخ

چیف ایډیټر و پبلشر پیر سید سفید شاه همدرد ورځپاڼه "وحدت" د پاکستان د حکومت په تصدیق د وحدت پریس خیبر بازار پېښور نه چپېږي، ایډیټر پیر رحمدل شاه
ایډیټر: ظفر علي شاه ګیلاني، پته: ورځپاڼه وحدت ۲۰ اسلامیه کلب بلډنګ
خیبر بازار پېښور فون: ۲۱۴۰۳۴ ۲۱۴۱۵۴ فېکس ۲۱۴۳۳۱
Emile: wahdat@pes.comsats.net.pk

وحدت

## ستوماني

ډاکټر کبیر ستورے

کۀ دژوند خبرې هر څومره ترخې شي
چې د استاد شونډو رنګ واخلي خوږې شي
چې مُسکے شي جهان واړه پۀ خندا شي
خوشحالي شي ورکې ټولې اندېښنې شي
مُسکي اوسه چې د غم پۀ کالۀ غم وي
پۀ منګي اوُ پۀ رباب تودې حجرې شي
لر قلنګ د سپېنې خُلې دمیوُ را کړه
چې بې خونده راته بې دمې خانې شي
داورسل د ستوري لاندې ئې اوده کړه
چې د ستوري ستوماني وزې دمې شي

په ټول ملک کښې د پښتو ورومبۍ ورځپاڼه

ورځپاڼه پېښور

# وحدت

چیف ایډیټر
پیر سفید شاه همدرد

رجسټرډ پي نمبر 27

دجمعې ورځ، 23ذیقعد 1424هـ ق، 26مرغومې (جدی)، 1382هـ ش
16جنوری 2004ء، 1ما، 2060ب، جلد 29، شماره 16، بیعه 4 روپۍ

## د افغانستان بدن کښې پښتانه د ساه حیثیت لري، کبیرستوری

### اساسي قانون کښې د پښتو ژبې د ملي کولو نوم نه اخستل زیاتے دے

پېښور (وحدت خبر) پښتانه دافغانستان بدن کښې د ساه حیثیت لري او همدا پښتانه دي چې

پاتې صفحه 5 کالم 7

پاتې: کبیرستورے

هیواد ته سوله، امنیت او سوکالي بخښي. المان کښې د پښتو د ټولنیز اولسولیز ګوند مشر ډاکټر کبیر ستوري وحدت ته خپل رالیږلی بیان کښې وئیلي دي چې دافغانستان نوي اساسي قانون کښې د ښځو د حقوقو او د هیواد د اقلیت ژبو ته رسمي شکل ورکول یو ښه کار دے. او مونږ د دغه ذکر شوو او ددې په څیر د نورو هیواد جوړوونکو او د وطن والو د سوکاله ژوند د غوښتونکو ماده وپوره ملاتړ کوو. دهٔ ووئیل چې د اساسي قانون د مسودې متن کښې د پښتو ژبې د ملي کولو نوم نه دے اخستل شوے چې دا پښتو سره زیاتے دے او مونږه نې هیڅکله هم منلو ته تیار نه یو. دهٔ ووئیل چې اساسي قانون کښې باید پښتو ته د پخوانیو اساسي قوانینو په څیر ملي حیثیت ورکړے شوے وُ خو متاسفانه چې دغه کار د اساسي قانون کمیسون د پام څخه غورځولے دے. دهٔ ووئیل چې نړیوالو دیموکراتیکو اصولو او دودونو په خلاف اساسي قانون کښې د ډیرکیو حقوق تر پښو لاندې شویدي. او د پښتنو ټولنیز اولسولیز ګوند دغه کار په کلکه غندي. دهٔ د نړیوالو دیموکراتیکو ځواکونو څخه غوښتي دي چې د نورو هیوادونو په شان افغانستان کښې د پښتو ملي ژبې ملي حیثیت ته زیان ونه رسوي.

وحدت

چیف ایډیټر پبلشر پیر سید سفید شاه همدرد ورځپاڼه "وحدت" د پاکستان د حکومت په تصدیق د وحدت پریس خیبربازار پېښور نه چھپوي، ایډیټر پیر محمد ... شاه
ایډیټر: ظفر علی شاه ګیلاني، پته: ورځپاڼه وحدت ۲۰ اسلامیه کلب بلډنګ
خیبربازار پېښور فون: ۲۱۴۰۳۴ ۲۱۴۱۵۴ فیکس ۲۱۴۳۳۱
Emile: wahdat@pes.comsats.net.pk

جمعه ۱۲ جنوری ۲۰۰۴

ABC CERTIFIED

THE FIRST PUSHTO DAILY OF PAKISTAN

MEMBER APNS

په ټول ملک کښې د پښتو ورومبی ورځپاڼه

پېښور

ورځپاڼه

# وحدت

چیف ایډیټر

پیر سفید شاه همدرد

رجسټرډ پي نمبر 27

پنج شنبه (زیارت) ورځ 26 شعبان المعظم 1424ھ ق، 30 تله (میزان) 1382ھ ش

23 اکتوبر 2003ء، 5 کتک 2060 ب. جلد 28. شماره 291. بیعه 4 روپۍ

## پښتنو خپلې ژبې او کلتور ته شا کړېده، کبیرستوری

### د ژبې په حواله د بې تفاوتۍ په وجه زمونږ قومي تشخص ورک شویدے

پېښور (وحدت خبر) د لوی افغانستان پیاوړی شاعر او د ساپوهنې ډاکټر کبیر ستوری خپل یو اخباري بیان کښې وئیلي دي چې د پښتون قوم د وروسته پاتې کېدو

باقي صفحه 5 کالم 4

**پاتې: کبیرستوری**

یوازینے علت دا دے چې مونږ تراوسه د خپل کلتور او ثقافت د پرمختګ د پاره هیڅ نه دي کړي دهٔ ووئیل چې پښتنو خپله ژبه هېره کړېده او په پردو ژبو نه یوازې خبرې کوی بلکې په پردو ژبو افتخار هم کوی دهٔ زیاته کړه چې د ژبې نه بې پرواهیو په وجه زمونږ قومي تشخص ورک شوے دے او چې څومره وخت تېرېږی مونږ نور هم په شا ځو دهٔ ووئیل چې د یو قام د پرمختګ د پاره د ژبې ترقی زیات اهمیت لري او کوم قومونه چې خپله ژبه او کلتور هېر کړي هغوی هېڅکله خپل ځان نه شي کتلے ډاکټر کبیرستوری ووئیل چې د افغانستان او پاکستان حکومتونو ته پکار دي چې د نورو ژبو ترڅنګ پښتو ته هم خپل حق او مقام ورکړي دهٔ ووئیل چې کهٔ چرته حکومتونو د پښتو ژبې په حقوقو هم داسې سترګې پټې کړې نو کېدے شي چې پښتون قوم او پښتو ژبه د مېنځه لاړه شي.

THE DAILY WAHDAT PESHAWAR

ورځپاڼه پېښور

وحدت

دوشنبه (ګل) ۱۵ دسمبر ۱۹۹۷ء

# د ډاکټر کبیر ستوري ژوندی خیالونه

لیک: لائق زاده لائق

د ادب د پوهانو خیال دے چې ادب دوه لوئې څانګې لري، وړومبے هغه ادب چې خالصتاً د ادب لپاره ولیکل شي په نورو لفظونو کښې دې ته ادب لطیف هم وئیل کیږي چې پکښې زیات تر رومانوي رنګ جوت وي. داسې شعر، افسانه، انشائیه او نور اصناف د ځیلي احساس د تکورد پارلکه د پهې کار کوی ولې چې په ژوند کښې د عمل او غورځنګ لارې نه په ګوته کوی زمونږ د پښتو ادب لمن د داسې فن پارو نه ډکه پکه ده چې پکښې د ښائسټونو رنګونه ستائیلے شوی دی او دا په دې اساس چې پښتون په مینه کولو کښې هم دومره انتها پسند دے څومره چې په کرکه او نفرت کښې خپل ثاني نه لري. د پښتون د سلګونو کالو خپل منځي اختلافات او تربګنې ددې قام ددغه طبعي او فطري احساس ترجماني کوی.

د ادب دویمه لویه څانګه هغه ادب دے چې د ژوند دپاره ولیکل شي دا قسم ادب خپلو لوستونکو ته یو منزل او یو مرام په ګوته کوی داسې ادب په وینه کښې غورځنګ پیدا کوی په پښتو ادب کښې ددې سلسلې باقاعده سر خیل خوشحال خان خټک ګڼلے شي چا چې د مغلو د ظلم او جبر په ضد د پښتون قام غیرت ته اوازو کړو او نه صرف دا چې پښتنو ته ئې خپل ځان وریاد کړو بلکې پخپله هم ددې مبارزې دپاره راووتو.

د افغان په ننګ مې وتړله توره
ننګیالے د زمانې خوشحال خټک یم

د خوشحال بابا نه پس ددې مسلک نور ګڼ لیکوال پیدا شول چې کله په دې منطقه کښې د خدائي خدمتګار تحریک پیل شو نو د پیرنګي خلاف ډیر قام پرستان لیکوال مخې ته راغلل چا چې ادب ته د قام پرستي هنرونه زده کړل ددې دورتول پښتني ادب د ژوند سندرې وائي دا هم د دغه لیکوالو د هلو ځلو نتیجه وه چې پښتانه ئې د باچا خان په مشرۍ کښې راغونډ کړل او دومره ئې منظم کړل چې بیا پرې د پیرنګي استعمار ګولۍ چلیدې ولې یو پښتون هم د تشدد لار نه خپلوله. د قیصه خوانی واقعه غالباً چې د ټول انسانیت په تاریخ کښې ځانګړې واقعه ده کله چې یو داسې قام د خپل رهبر باچا خان په وینا د فرنګي استعمار ګولو ته خپله سینه اونیوله د کوم د غیرت او میړانې مثالونه چې د کاڼي کرښې دی دغه وخت وینې بهیدې ننګیالي په خاورو کښې لت پت کیدل ولې چا هم د باچا خان د ښودنې نه سرغړونه نه شوه کولے دا ټول ننګیالي د یو داسې ادب د لارې ملګري وو کوم چې د ژوند ترجمان وو د خدائي خدمتګار تحریک په وړاندې بوتلو کښې د پښتنو لیکوالو هلې ځلې یو داسې اټل حقیقت دے چې څوک ترې هم انکار نه شي کولے. پیرنګي استعمار اخر په دې مجبوره شو چې ددې خاورې نه کډې بار کړي پیرنګے لاړو، ولې د پښتون قام هغه ارمان پوره نه شو د کوم دپاره چې زلمو خپل سرونه شیندلي وو د کوم دپاره چې پیغلې کونډې شوې وې او د کوم دپاره چې بې شمیره میندې بورې شوې وې.

د پیرنګي د تلو نه پس د جنوبي ایشیا په نقشهٔ د پاکستان د نوم اضافه وشوه ولې پښتون قام بیا هم ټوټې ټوټې او تار په تار پاتې شو عن تر دې چې په یو وطن کښې په بیلو بیلو برخو کښې ویشلے پاتې شو د پښتنو لیکوالو دغه ارمان لا اوس هم په غورځنګ دے د لراو بر ګڼ شمیر لیکوال د پښتون قام یو والے خپل منزل او خپل مرام ګڼي د داسې لیکوالو په صف کښې یو قام پرست پښتون ډاکټر کبیر ستورے هم دے.

د ستوري تعلق د افغانستان د کونړ ولایت کلي «تنړ» سره دے او چې کله ئې فکر ځوان شوے دے نو د اولې ورځې نه ئې د پښتون قام د یو والي غږ کړے دے ښاغلے کبیر ستورے د یو حساس فکر سره سره د یو حساس ذهن هم لري د هغهٔ په شونډو هر وخت نرۍ مسکا خوره وی داسې په قرار قرار خبرې کوی لکه چې په هره خبره کښې د پښتون د خپلواکۍ یو پټ پیغام هر چا ته رسوْل



غواړي. ښاغلے ستورے د یارانو محفل کښې مدام وړ ک ورک ناست وي

دا ځکه چې د هغهٔ په ذهن کښې هر وخت د پښتون قام غم چورلکونه خوری د هغهٔ په ژوند کښې یک یو مرام د پښتونخوا عظمت او د پښتون قام سره بې غرضه مینه ده.

دا کونړ ستورے پاس په هسک کښې ځلیدوونکے ئې ما پکښې مینه د «پښتو» او «پښتونخوا» واخسته

ښاغلی کبیر ستوری د ژوند لویه برخه په جرمنی کښې تیره کړه او لا تر اوسه په دغه پردی هیواد کښې ژوند کوی د ښاغلی ستوری د «پښتونخوا» سره د مینې اندازه ددې خبرې نه لګیدے شي چې د جرمنی حکومت څو ځله دوی ته دا موقع ورکړه چې دغلته د دوسره ایسارتیا په بدل کښې د جرمنی باقاعده شهریت واخلی ولې ښاغلے ستورے دې ته تیار نه دے چې خپلې اړیکې د خپل هیواد سره بریکړې کړی. په پردی هیواد کښې د ستوری د پښتو بل ژوندے مثال دا دے چې دغلته ئې د پښتنو قام پرستانو یو ګوند د «پښتون سوشل ډیموکرټیک پارټی» په نامه جوړ کړیدے دا ګوند هر کال د پښتنو د یو والي ورځ نمانځي چې پکښې د لراو بر قام پرستانو پښتنو ته بلنه ورکولے شي دا ټولې قربانۍ ښاغلے ستورے په ځان منی دغه وجه ده چې په جرمنی کښې د پنځهٔ دیرش کالو تیرولو باوجود ئې هیڅ یوه پیسه نه ده جمعه کړې بلکې خپل هر څهٔ ئې د پښتو د لیلٰی نه زار کړی دی.

ما کبیر ستوری خاپوړې پکښې کړی ازادی د پښتونخوا مې لوئې ارمان دے

ښاغلے کبیر ستورے په دې پوهیږی چې قرباني ورکولو نه بغیر د ازادی مرام ته رسیدل ګران دی.

ستوریه د مینې مورچل نیسه کهٔ مئین ئې رښـــتـــیـــا
ګنې لیلٰی د ازادی کورته راتللے نهٔ شي

ولې کبیر ستورے د خپلو دغه قربانو په نتیجه کښې د راتلونکې سباوْن نه مایوسه نه دے او دا کلک باور لری چې د پښتنو د یو والی سحر به خامخا راخیژی.

دا تیار د ژوند ورکیږی سبا کیږی
د سبا ستورے راخیژی خامخا

ښاغلے کبیر ستورے چې کله هم پاکستان ته راغلے دے نو دلته ئې د خپلې ټولې ایسارتیا شپې د پښتو په خدمت کښې سبا کړی دی ددې سیمې ټولو لیکوالو له ورغلے دے سیاستدارانو له ورغلے دے په پوهانو جرګه شوے دے چې باید ددې لوئې مقصد او مرام دپاره خپلې هلې ځلې نورې هم تندې کړے شي.

سلامې تړلې د وطن د ازادی لپاره
د پښتنو د ابادی او سوکالی لپاره
پاتې به بله پانړه کی . . . . .

THE FIRST PUSHTO DAILY OF PAKISTAN

ABC CERTIFIED

په ټول ملک کښې د پښتو ورومبې ورځپاڼه

MEMBER APNS

ورځپاڼه پېښور

THE DAILY WAHDAT PESHAWAR

وحدت

چیف ایډیټر: پیر سفید شاه همدرد

د دوشنبې (پیر) ورځ، ۱۵ شوقدر ۱۴۱۸ هـ ق، ۲۴ لیندۍ (قوس) ۱۳۷۶ هـ ش، 15 دسمبر 1997ء، جلد22، شماره339.

## د ډاکټر کبیر ستوري "ژوندي خیالونه" پاتې برخه

ښاغلي کبیر ستوړي پهٔ دې خبره کله هم نهٔ دے خوشحاله چې پښتانهٔ دې خپل منځي ډلې ولرى هغه کهٔ افضل خان لالا له ورغلے دے نو ورته ئې د خان عبدالولی خان د خواخوږۍ پیغام ورکړے دے کهٔ چرې لطیف اپریدی له ورغلے دے نو ورته ئې د محمود خان اچکزی د روغ نیتی قیصه کړې ده ښاغلے ستوړے دا کنی چې کهٔ چرې مونږ خپله پیژند ګلو حاصلول غواړو نو خپل منځي اختلافات به د مینځ نه وړو او د یو روښانه سحر د پاره به هر پښتون بچے خپلې ذمه وارى سر ته رسوی.

د توري او قلم خاوند چې هر پښتون شی نو هله به روښانه شی بیا ستوړے د سحر د ښاغلی کبیر ستوری د شاعری محور پښتونولی ده د هغهٔ لیلٰی پښتو ده د هغهٔ ارمان پښتونخواه دے هغه د ساه پوهنې ډاکټر دے ځکه نو د پښتون قام پهٔ نفسیاتو پوئې دے چې ددې قام د ټولو مسئلو حل دا دے چې دوی ځان وکتی او هغه د باچا خان فلسفه خپله کړی چې لا به یو کیږو کنی ور کیږو» د ښاغلی کبیر ستوری پهٔ حقله ښاغلے اجمل خټک لیکی.

«د ښاغلی کبیر ستوری ژوندی خیالونه پهٔ پښتو ژبه، د پښتنې وینې او مینې، د پښتنو د نني او پرونو زخمونو او سبانی ارمانو او پښتو او پښتونولی د ژوند او مستقبل د سپرلی وړمې دی»

زه دا کنم چې د ښاغلی کبیر ستوری ژوندی خیالونه به ډیر زر د پښتنو د یو والی هغه ارمان پهٔ عملی شکل کښې ووینی کوم ته چې د ډیرو قام پرستانو انتظار دے او اوس ورځ تر ورځه دغه انتظار خپل منطقی انجام ته پهٔ رسیدو دے.

دا ستوړے د اسمان ورته رڼا کوی ولاړ دے

نقشه کښې د نړی د «پښتونخواه» نوم لـــیـــکـــل کـــیـــږی

ts.net.pk

وحدت

چیف ایډیټر، چیف ایګزیکټیو، پبلشر پیر...
چیف ایډیټر: پیر سید سفیدشاه همدر...

وحدت د ټولو پښتنو ډېرلو عکاسه ورځپانه ده، چې د پاکستان او افغانستان په شمول د نړۍ په ...

پیر (دوشنبه) 12 فروری 2007

## د اروابناد ډاکټر کبیر ستوري ژوند، شاعري او اثارو ته يوه لنډه کتنه

شاعر او لیکوال د خپلې ټولنې ترجمان وي، ښهٔ اوبریالے شاعر، لیکوال هغه دے چې د ټولنې په نبض او ژبه پوهیږي. د ټولنې په ژبه وګړیږي. د خپلې ټولنې دردونه تشخیص او دهغې د علاج لپاره درمل تجویز کړي. په ټولنه کښې د فساد، ظلم او ناخوالو په وړاندې قلم وچلوي. هغه راوسیږي او اولس بیدار کړي که په لنډو ټکو کښې ووایو: هنر د

### معاون محقق وجیه الله شبوز

هنر له پاره نهٔ بلکې هنر د ژوند لپاره استخدام او ژوندني مسائیل پرې سمبال کړي. کهٔ څهٔ هم په ژوند دغسې متعهدو او ملتزمو لیکوالانو او شاعرانو ته دخلقو پام نهٔ وي، خو کله چې د مرګې سیلي ئې قلم له ګټو پریباسي نو بیا د خوشحال خان د دغه خبره رښتیا شي:

دخوشحال قدر کهٔ اوس په هیچا نشته
پس له مرګه به ئې یاد کا ډیر عالم

خبره دا دهغه شاعر کوږ دچا چې هېښه پښتو، وېښه پښتو، وینا پښتو وه، ښکلي ئې هم پښتانهٔ خوښیدل، د شاعري پوده او تښتنه ئې هم ټولـه پښتو او پښتونولي وه. دا شاعر اروابناد ډاکټر کبیر ستورے دے چې د نن څخه ۲۴ کاله وړاندې د ۱۳۲۱ ل کال د وري د میاشتې په ۱۷ نیټه د کونړ ولایت د خاص کونړ اولسوالۍ د تتر په کلي کښې ئې نړۍ ته سترګې غړولې وې، دے د لعل محمدخان زوې په خټه میردادخیل یوسفزے دے، لومړنۍ زده کړې ئې د خاص کونړ په لومړنۍ ښوونځی او د کابل بابا په لیسه کښې وکړې لوړې زده کړې ئې د جرمنی د فرانکفورټ، کولن او دمار بورګ په پوهنتونونو کښې د اروا پوهنې په څانګه کښې د دوکتور یا پی ایچ ډی ترکچې بشپړې کړې. د ۱۹۷۰ کال راپدیخوا د کرنې د ساپوهنې د نړیوالې ټولنې غړے ؤ ستورے د پښتون سوشل ډیموکرات ګوند مشر او ددې ګوند د بنسټ ایښودونکو مخکښانو څخه ؤ. دده د وینا له مخې د شاعرۍ په نړۍ کښې ئې تر ټولو زیات د اجمل خټک ته الهام اخستے او د پښتو د یووالي، خپلواکۍ او سوکالۍ لپاره ده ته د باچاخان نظر یو ژوند ورېښتیلے دے. ډاکټر کبیر ستورے د ۲۰۰۲ زیږدي کال د اپریل په څلورمه نیټه په جرمنی کښې لـه دې نړۍ څخـه د تل لـپاره سترګې پټې کړې او په خاص کونړ کښې د خپلې پلرنۍ هدیرې په غیږ کښې خاورو ته وسپارل شو. روح دې ئې ښاد او اباد وي.

اروابناد ستوري خپل علمی او فرهنګی ژوندانهٔ کښې لاندې اثار په میراث کښې پرېښي دي:

ویره: د اروا پوهنې په رڼا کښې د ویرې نظري پیمانه او درمل) جرمنی ۱۹۹۴:

ژوندۍ خیالونه (شعري ټولګه) پېښور ۱۹۹۷

د قلم توره (شعري ټولګه) پېښور ۱۹۹۹

د هوښیارتیا تـلـه( اروا پوهنه) پېښور ۲۰۰۰


ژبـاپوهنه (اروا پوهنه) پېښور ۲۰۰۰

سـنـدریز پیغام (شعري ټولګه) پېښور ۲۰۰۰

د هوښیارتیا کلتوري یې پلوه تله(پېښور ۲۰۰۴

او نور کتابونه

د اروابناد ستوري شاعري تولـه د



پښتو او پښتونولي په خم کښې رنګ او پـه اصـطـلاح د شاعرۍ ټول تاروپود ئې پښتنی دی. دده د شاعرۍ بـلـه ځانګړنه رواني او سلاست دے، تعقید، ابهام، او پیچلي کلمات او الفاظ نهٔ لري. ساده او روان لـفـظي انځورونـه جوړوي. د افادې ژبه ئې فصیحه ده بې خـایـه نهٔ وی کهٔ ووایو هغه څوک چې څهٔ نـا څهٔ سواد ولري، دده د اشعارو په مضمون او محتو پوهیدے شي. دده اشعار د فورم او شکل لـه مخې د غزل، څلوریزې او ترجیح بند په فورمونو کښې وئیل شوی دی او یوه نیمه قصیده هم دده په شعري ټولګو کښې موندل کیږي.

اروابناد ستوري پـه پښتو او پښتونولي ستر سره د مینې او محبت شاعر دے، په مینه کښې د انسان نیکمرغي نغښتې ګڼی او عبادت ته د مینې نوم ورکوي. په رښتیا هم انسان یې، خاصه مینه د الله پاک عبادت نه اړتیا لري چې بایله ئې په همیشنو نیکمرغیو کښې هوبیدل دی دے وائي:

محتاج کله د انسان د زیار زحمت دے
بې نیـازه دے د خدای بې شان قدرت دے
عبادت د مینې نوم دے دا منه
نیکمرغي د انسان مینه محبت دے

همدا رنګ متقابل احترام او درناوے هغه څهٔ دے چې د ټولنې راشه درشه، اړیکې او وروروولي پرې ټینګیږي. کرکه او نفرت کموي، د تربګنې او دښمنۍ په اور اوبهٔ اړوي او د ټولنیز ژوندانهٔ مهم اصل دے. دې اصل ته داسې اشاره کوي:

راپاتې له لویانو دا پیغام دے
چې د بل پـه درناوی کښې دروند مقام دے
کهٔ نظر دې خپل اوچت ساتې نو پوهه شه
چې لازم د بل نظر ته احترام دے

اروابناد ستورے هدف تـه پـه رسیدلو کښې عمل او جرات ته ترجیح ورکوي. نهٔ خلې او نهٔ وینا تـه، ځکه وینا هغه وخت وزن پیدا کوي چې د عـمـل په کالی وتللے شي. د انسان دبریالیتوب راز د هغهٔ پـه جرات، عمل او تحرک کښې نغښتے دے، کهٔ زمرے بې تحرکه شي نو بیا خو خلق په حقه د پروت زمري نه ګرځنده ګیدړه ښهٔ ګڼی دے وائي:

لږ د نشت نه ډیر دی کهٔ ټول نهٔ وی لږ په تل کوی
رسي بـه منزل ته چې ولاړ نهٔ ئې مزل کوی
غیږ تـه دجانان ورتلهٔ جرات عمل
خوځښت غواړي

APNS CPNE FEC

Wahdat@pes.comsats.net.pk

موږ د پاره هم الله کافي دے او هغه تر ټولو بهتر مددګار دے (القرآن)

Daily wahdat Peshawar

چیف ایډیټر
پیر سید سفید شاه همدرد

ورځپانه
وحدت

پېښور
پاکستان

ایډیټر
سید هارون شاه

فون: 2214154 فیکس: 2214321 بیعه 4 روپۍ

جلد: 31

یکشنبه اتوار، 15 ربیع الثاني، 1427 هـ ق، 1 جېټ، 2063 ب
14 مئ، 2006، 24 ثور غوایي، 1385 هـ ش

شماره: 130

### د پښتونولي فلسفه
ډاکټر کبیر ستورے

ښنسټ دې د ژوندون د پښتونوالي فلسفه شي
لمن دې د ادب د خوشحالو ګرمه ډېره شي
اولس دے ځوریدلے خو ژړا باندې څهٔ نهٔ شي
پیدا دې، دې اولس ته د خندا يوه شیبه شي
درمل د ځوریدلو انسانانو په امید شي
امید دې د ژوندون د سوکالي ورته تفحه شي
امید د خوشحالي او سوکالي چې زړه کښې نهٔ وي
انسان ته مرے جوړ شي ځائي ئې ګور او هدیره شي
دا ستورے د پښتون د خپلواکۍ په هله ړوڼ شي
چې واره پښتانهٔ په يو سر کز ټول شي جرګه شي

ورځپاڼه پېښور

THE DAILY
WAHDAT
PESHAWAR

وحدت

چیف ایډیټر: پیر سفید شاه همدرد


پاتې برخه

د اروابناد ډاکټر کبير ستوري ژوند، شاعري او اثارو ته لنډه کتنه

ليکوال: مرستيال څېړونکی وجيه الله شپون

12 February. 2007

هسې په خلهٔ نهٔ شی چې په خلهٔ
ورته ورتلل کوی
خو ددې سره سره کهٔ سړے خپل
مقصد ته ونهٔ رسيږی، شاعر په
مقدراتو او ازلی برخه باندې پوره
معتقد دے او وائی:
يو وئيل په تنده ده په منده نهٔ ده
بل وئيل په منده ده په تنده نهٔ ده
ستوری وئيل ما ته خو دا سمه
برېښی
په دواړو ده په يو کښې غونده نهٔ
ده
يوه بله خبره چې ډيره د پام وړ ده
هغه دا ده چې ډاکټر ستوی په
مسلکی لحاظ د ارواپوهنې
متخصص او په جرمنی کښې
اوسيدو، دے په دې پوهيدو چې
محيطی عوامل د ماشومانو په
شخصيت جوړونه کښې څومره
رول لری؟
په لويديزو هيوادونو کښې کورنے
نظام څنګه دے؟ کوم افغان چې
هلته تللے د دوی ماشومانو خپله
ژبه، کلتور، او پښتنی
خصوصيات تر کومې کچې
ژوندی ساتلی دی؟ دې موضوع
ته په پامرنې سره ددهٔ د لاندينو
بيتونو څخه داسې څرګنديږی چې
په دې برخه کښې ئې خپلو
اخلاقو ته هم تشويش درلودو
خکه وائی:
رنګ به د پښتو مينې ته ورکړمه
دا پرديس بچے به خپل راخپل
کړمه
پوهه به پوهيال سره ملګری کړمه
پت به د پتوال د پتکی ول کړمه
تل خو به خاطر د خاطرې کوم
ښکلې رانژدې شه چې دې ښکل
کړمه
خيال به په" سوما "او په" هما"
ساتم
پوخ به په" يما" "سنګر "مورچل
کړمه
دې پردی وطن کښې چې پردے نهٔ
نې
پام به په روزنه د" ايمل "کړمه
د اروابناد ستوری په شاعری
کښې د اجتماعی او اخلاقی
روزنې درسونه هم شته چې تولو
خلقو او په خانګړې توګه خوانانو
ته ډير ارزښتناک دی لکه چې
وائی:
د بل زړهٔ ازارول چاره خطا ده
خو ازار د مور و پلار لويه ګناه ده
چې ازار د مور لو پلار وی څوک وهلے

نور په پنځم مخ

صلاح کوه
پام کوه په نوی کول چې دا
ګلان تالا نهٔ شی
هر څهٔ چې کوې سوچ د ژوندون
د پرمختيا کوه
په انتقادی برخه کښې هم
شعرونه لری چې لاندې بيتونه
ئې د بيلګې په توګه راوړو، په
دې بيتونو کښې په هغه
خائنانو پښتنو چې په رسمی او
دولتی منصب کار کوی خو
دپښتو ژبې د تصميم او ترقی
په غم کښې نهٔ دی، داسې اشاره
کوی:
ګناه د بل چا نهٔ ده دا زمونږ
خپله ګناه ده
پښتو، پښتونولی ته اړولې
چې مو شا ده
پښتون چې څوک کړی مشر او
خاوند شی د کرسی
هغه بس ما ته کړې ددې خپلې
پښتو ملا ده
او يا دا چې:
مونږه پښتو نهٔ ده پاللې ملامت
خپله يو
له خپل دفتره مو ويستلی
ملامت خپله يو
واکمن په وينه پښتانهٔ دی خو
پښتو نهٔ کوی
نهٔ ئې ليکلې، نهٔ وئيلې ملامت
خپله يو
د اروابناد ستوری دعلمی او
فرهنګی شخصيت په تولو
ابعادو باندې خبرې کول ددې
لنډې تنګې يادونې له حوصلې
وتلې خبره ده، زهٔ هيله مند يم
چې په راتلونکې کښې به
زمونږ ښاغلی قلم وال، ددغې
علمی او فرهنګی شخصيتونو
د نمانځنې او درناوی په لړ
کښې په دوی ډير څهٔ وليکی،
زهٔ دخپلې ليکنې لمن ددهٔ په
لاندې بيتونو رانغاړم:
دا دستور دے چې لومړے پيژند
د خان شی
پس له هغې بيا پيژند د نور
جهان شی
چې پخپله پښتو ژبه ليکل نهٔ
کړی
دا ليکوال دې د نالوستی نه
قربان شی

پاتې کبير ستورے 2

د بخت ستورے ئې تور تم وی
دا رښتيا ده
اويا دا چې:
تير چې شو تاريخ شو خيال د
نن او د سبا کوه
هر کار د ملګرو مشرانو په

مونږ د پاره هم الله کافي دے او هغه تر ټولو بهتر مدد ګار دے (القرآن)

Daily wahdat Peshawar

چیف ایډیټر
پیر سید سفید شاه همدرد

ورځپانه
# وحدت

پېښور
پاکستان

ایډیټر
سید هارون شاه

فون: 2214154 فیکس: 2214321 بیعه 4 روپۍ

جلد: 31 | دوشنبه (پیر) 9 ربیع الثاني، 1427 هـ ق، 30 ویساک، 2063 ب | 8 مئی، 2006، 18 ثور (غوائې)، 1385 هـ ش | شماره: 124


# دژبې ترقي سره دقام ترقي تړلې ده. افضل خان لاله

## پښتو عالمي کانګرس او غني خان پښتو ادبي تحقیقي ثقافتي جرګې دډاکټر کبیر ستوري او قمرزمان قمرطانزي یاد کښې ریفرنس وکړو

## دپښتو ژبې او ادب دودې لړ کښې به د ډاکټر ستوري او قمرزمان طانزي خدمات تل یادساتلے شي. مقررین




د عوامي نیشنل پارټۍ مشر افضل خان لاله او نور یو دستوره کښې شریک دي

پېښور (وحدت خبریال) دعوامي نیشنل پارټۍ مرکزي مشر محمد افضل خان لاله وئیلي دي چې دپښتو ژبې د روزنې پالنې او ددې دژوندي ساتلو دپاره چې شاعرانو، ادیبانو او لیکوالو د وسائلو دنشتوالي باوجود کومې قرباني ورکړیدي. او دپښتون قام د وحدت دپاره ئې کوم فعال کردار ترسره کړے باید هغې ته دقدر په نظر وکتل شي. پښتون یو داسې بدقسمته قام دے. چې په سوونو کاله اقتدار کښې پاتې شوید ے. خو ژبه ئې اقتدار کښې پاتې نۀ ده. دژبې ترقي سره دقام ترقي تړلې ده. ددې خیالاتو څرګندونه دۀ تیره ورځ دمشر میلمه پۀ حیث دپښتو عالمي کانګریس او غني خان ادبي، تحقیقي، ثقافتي جرګې په اشتراک دپښتو دستر شاعر، نقاد او محقق اروابناد د قمرزمان قمرطانزے او پوهاند لیکوال اروابناد ډاکټر کبیر ستوري پۀ یاد کښې پېښور پریس کلب کښې شوې درنې دستورې ته دخطاب په وخت کړې ده. ددستورې صدارت پروفیسر جهانزیب نیازکولو. افضل خان لاله دکبیر ستوري او قمرطانزے روح ته ددوی دادبي خدماتو په ترسره کولو نیکې پیرزوئنې وړاندې کړې او وې وئیل چې پښتانه باید د دوی پیغام خور کړي او ټول عمر کبیرستورے او قمرطانزے پۀ خپلو ذهنونو او زړونو کښې ژوندے وساتي. دستورې ته دخطاب په وخت ددستورې صدر دپښتو عالمي کانګریس چیرمین پروفیسر جهانزیب نیاز، لائق زاده لائق، ډاکټر شیرزمان طانزے، مبارز ځاپي، د ورځپانې وحدت نیوز ایډیټر میافاروق فراق، محمد اصف صمیم ایم پي اے ارشد خان او نورو پوهانو د اروابناد ډاکټر کبیر ستوري او اروابناد قمرزمان قمرطانزے پۀ ژوند او خدماتو رڼا واچوله پۀ دې موقع دستیج سکتر فرائض شبیر دراني ترسره کړل دستوره کښې دشهاب الدین ختک، د ورځپانې وحدت سب ایډیټر امجد علي خادم، انفارمیشن افسر او ستر لیکوال لیاقت امین، حمید الرحمان نادان، شمشیر هیواد، فریدون خان او دګل محمد مسرور او مطهرشاه طاهر نه علاوه د چارسدې، مردان، صوابۍ، کوهاټ، پېښور او خواؤشا نورو علاقو دادبي تنظیمونو نمائندګانو او افغان لیکوالو هم ګډون وکړو.

ABC CERTIFIED
THE FIRST PUSHTO DAILY OF PAKISTAN
MEMBER APNS

په ټول ملک کښې د پښتو ورومبۍ ورځپاڼه

پېښور

ورځپاڼه

# وحدت

چيف ايډيټر
پير سفيد شاه همدرد

رجسټرډ پي نمبر 27

پنج شنبه (زيارت) ورځ 19 شعبان المعظم 1424 هـ ق، 23 تله (ميزان) 1382 هـ ش
16 اکتوبر 2003ء، 28 اسو 2060 ب، جلد 28، شماره 284، بيعه 4 روپۍ

د پښتونخوا قومي پارټۍ

# د ډيورنډ د کرښې په موضوع سيمينار

پېښوري لانډي

## دپاکستان د سياسي ګوندونو مشرانو، افغاني سياسي شخصياتو، قبائيلي مشرانو او قوم پرستو پښتنو پکښې برخه واخسته

## د ډيورنډ کرښې پښتانه تقسيم کړيدي، دا کرښه غير فطري ده اخر او اول به له مينځه وړل وي

## ټول پښتانه بايد دخپلو حقونو دحصول دپاره يو موټې شي، دافضل خان، عبدالرحيم مروت، لطيف اپريدي، افضل خاموش او نورو خطاب

پېښور (سنګرمل زمان زے) د پاکستان دپښتونخوا قومي پارټۍ د صدر افضل خان لاله قيادت کښې په پښتون قام د ډيورنډ دکرښې دمنفي اغيزو ترنامه لاندې سيمينار پېښور کښې جوړ شو. سيمينار کښې دپاکستان دسياسي پارټيو سيمه ايزو مشرانو، افغان سياسي شخصيتونو، د قبائيلو قومي سپين ږيرو، افغان ميرمنو ژورنالستانو او رابلل شوو ميلمنو برخه اخستې وه. دسيمينار پيل کښې افضل خان لاله ديوې مختصرې وينا په ترڅ کښې دسيمينار برخه والو او ميلمنو ته ښه راغلاست ووئيلو او دهغوی ځخه ئې هيله وکړه چې د تاکل شوې موضوع په رابطه دخپلو خيالاتو اظهار وکړي او دسيمينار برخه والو ته په دې حقله لازم تاريخي معلومات وړاندې کړي. وروسته پروفيسر عبدالرحيم مروت دپښتنو په قبائيلي جوړښت او جغرافيائي موقعيتونو وغږيدو. او په دې حقله ئې اوږد تاريخي معلومات وړاندې کړل. دۀ ووئيل چې په نړۍ کښې هيڅ داسې يو قوم نشته دے چې د خپل قوميت، ثقافت او

يووالي پرته پيژندل شوے او يا ئې ترقي کړې وي. دۀ ووئيل چې نننۍ زمانه او عصر دا تقاضا او غوښتنه لري چې پښتون قوم خپل خان وپيژني. او ديو والي په روحيه دترقۍ په لور حرکت پيل کړي. سيمينار ته خپل خطاب کښې د کميونسټ پارټۍ مشر افضل خاموش ووئيل چې موږ ته د خبرو په ځاې عملي کوششونه کول پکار دي. دۀ ووئيل چې د ډيورنډ کرښه غيرفطري ده. او پاکستان يا افغانستان دواړو کښې به يو له دا کرښه ماتول وي. وريسې کونسلرې قيصر ووئيل چې پښتانه بايد د يو والي لاسونه ورکړي. او دخپل برخليک دټاکلو دپاره اغيزمن ګامونه اوچت کړي. دې ووئيل چې پښتنو ته پکار دي چې دخپل ځوان نسل په روزنه او علمي زده کړه کښې ډيره توجه وکړي. دې ووئيل چې که پښتانۀ هم لکه دنړۍ دنورو ملکونو په شان د پوخ سياسي تفکر او علم په ګاڼه سينګار شي نو بيا دخپلو قامي ګټو د تامين ښۀ تدبير نيولے شي. وروسته ودود هشنغرى يو خوږ

ملي او جذباتي نظم ولوستو چې دسيمينار دبرخه والو خوښ شو. وريسې ايم اى بهټو، روښان يوسفزى، دپاکستان مزدور کسان پارټۍ مرکزي صدر افضل خاموش، اکمل ليونى، ظاهره خټک او د اے اين پي دمشر تابه هيئت غړى او مشهور سياست دان اجمل خټک په جدا جدا توګه وينا وې وکړې. او د ډيورنډ دکرښې دتاريخي حيثيت دمينځه تلو، دپښتون قوم دملي وحدت او دپښتو ژبې او ثقافت په حقله ئې ګټورې خبرې وکړې. دسيمينار دکار د ورومبۍ برخې په نيماني کښې په امريکه کښې دمشهور قومي مشر طاهر اچکزى او د حسن کاکړ هغه پيغامونه هم ولوستل شول کوم چې د افضل خان لاله په نامه د ډيورنډ دکرښې په رابطه سيمينار ته را استول شوي وو. سيمينار ته د افغان ملت ګوند مشر شمس الهدى شمس، امير حمزه مروت او لطيف اپريدى هم خطاب وکړو. واضحه دې وي چې سيمينار به نن دزيارت په ورځ په دويمه ورځ هم دوام وکړي.

05.12.1997 وحدت ورځپاڼه

# د پښتونخوا د پوهنې ديره به درښتين په نوم مجله اجراء کوي

## د خدائي بخښلي علمي کارونو ته به خصوصي توجو ورکولې شي، غونډه کښې پرېکړه

پېښور (پ ر) د اروا ښاد پوهاند رښتين په ياد کښې د پښتونخوا د پوهنې د ېرې په اهتمام يوه تعزيتي غونډه راحت اباد پېښور کښې د ښاغلي بصير بيدار په کور کښې وشوه، چې مشري ئې دد ېرې د اطلاعاتو سکرتر لائق زاده لائق کوله. غونډې کښې د مقامي ليکوالو نه علاوه د افغانستان ځينو ميلمنو ملګرو هم ګډون وکړو چې پکښې ښاغلے لونګ، ننګيال پنيال او محمد ګلاب شامل دي. غونډې کښې د ښاغلي رښتين په علمي خدماتو تفصيلي رڼا واچولے شوه او دا فيصله وشوه چې د پښتونخوا د پوهنې ديره د رښتين په نوم يو درې مياشتني مجلې اجرا کوي چې پکښې به د خدائي بخښلي علمي کارونو ته خصوصي توجه ورکولے شي.

---

## د پښتونخوا د پوهنې ديره

د پښتونخوا د پوهنې دديرې د مشورې لاندې د جنورۍ په پينځمه نېټه راحت اباد پېښور کښې يوه تنقيدي غونډه د عبدالبصير بيدار په مشرۍ کښې وشوه، د نظامت فرائض ننګيال پټ يال ترسره کړل. دا يجنډې ترمخه لائق زاده لائق خپل نظم «د ننګ شملہ» تنقيد ته وړاندې کړو چې زړه پورې بحث پرې وشو او په مجموعي توګه معياري وګرځولے شو. اخره کښې غير طرحي مشاعره وشوه چې پکښې ننګيال پټ يال، عبدالبصير بيدار، لائق زاده لائق، ګلاب يوسفزي، ګل رنګ ميرداد خيل، محمد رحمان کمال او عبدالغفار غيرت خپل خپل کلامونه واورول.

ABC CERTIFIED

THE FIRST PUSHTO DAILY OF PAKISTAN

MEMBER APNS

په ټول ملك كښې د پښتو ورومبۍ ورځپاڼه

ورځپاڼه پېښور

# وحدت

چيف ايډيټر

پير سفيد شاه همدرد

رجسټرډ پي نمبر 27

دوشنبه (پير)، 20 ذی القعده، 1422 هـ ق

4 فروري 2002، 24 ما 2058 ب، جلد 27، شماره 35، بيعه 4 روپۍ


# افغانستان خارجي مداخلو تباه كړيدے، اجمل خټك

## د افغانستان په حقله د جنرال پرويز مشرف د پاليسۍ مرسته كوو، د غربت خاتمې سره به دهشت گردي پخپله ختمه شي

كوهاټ (فيروزخان صادق) د نيشنل عوامي پارټۍ مشر او بزرگ سياستدان اجمل خټك وئيلي دي چې شعر او ادب د قام وجود قائم ساتي او د شاعرانو اديبانو د بركت نه پښتو ژبه او پښتون قام په دنيا كښې موجود دي ده تيره ورځ د كوهاټ په

پاتې صفحه 5 كالم 5

پاتې: اجمل خټك

غورزني كلي كښې د اباسين ادبي ټولنې كوهاټ د ورومبۍ كليزې په مناسبت جوړې شوې غونډې ته د مشر ميلمه په حيث خطاب كولو ده د ملكي سياست په حقله ووېل چې هند او پاكستان دې د مذاكرات په ذريعه مسئله حل كړي ولې چې د جنگ په صورت كښې به دواړه ملكونه او ټوله شيمه تباه شي د وحدت په پوښتنه ده د افغانستان په حقله ووېل چې د جنرل مشرف پاليسي د قدر وړ ده ده ووېل چې غربت ختم شي او تعليم راشي نو دهشت گردي به خپله ختمه شي ده ووېل چې ما د جنرل مشرف سره ليدل كتل كړي دي او ورته مې د سيمې په حالاتو ټول حال وئيلے دے ده ووېل چې د افغانستان مسئله به د لويې جرگې د لارې هواريږي ده ووېل چې افغانستان بهرنۍ مداخلې تباه كړے دے افغانستان ستر ابدالي د ټولو افغانانو د پاره جوړ كړيدے بايد ټولو قامونو ته پكښې مناسبه نمائندگي وركړے شي ده ووېل چې د افغانستان مسئله واشنگټن كښې نه بلكې د افغانانو ترخپل مينځ خبرو كښې هواريږي ده ووېل چې پاكستان د موجوده افغان حكومت سره ښې اړيكې غواړي خو بعضې لاسونه دا نه غواړي ده ووېل چې زمونږ پارټۍ د افغانستان د ننه د قيد شوو پاكستانيانو د خلاصي د پاره كوشش كوي او په دې حقله زمونږ خبرې اترې شروع دي ده ووېل چې امريكا افغانستان كښې خپلې ښې بنځول غواړي خو افغانان به دوي داسې كولو ته كله هم پرې نه ږدي ده ووېل چې كه يورپي ملكونه د افغانانو د ښې د پاره كارونه كوي نو مونږ ئې مرستې كوو خو كه اراده ئې نوره وي نو مونږ ئې غندنه كوو غونډې ته د علاقې ناظم ملك فضل ربي پروفيسر محبت خان خټك فيروز خان صادق او ځنې نورو مشرانو هم تقريرونه وكړل

THE FIRST PUSHTO DAILY OF PAKISTAN
ABC CERTIFIED
په ټول ملک کښې د پښتو ورومبې ورځپاڼه
MEMBER APNS
ورځپاڼه پېښور
THE DAILY WAHDAT PESHAWAR
وحدت
چیف ایډیټر: پیر سفید شاه همدرد
دشنبې (خالی) ورځ ۵، سیانه ۸، ۱۳ هـ ق، ۲۳ کب (حوت) ۱۳۷۶ هـ ش، 14 مارچ 1998ء، جلد 23، شماره 71
پیمه خلور (4) روپۍ
(رجسټرډ نمبر ۲۷

# پښتونولي

پښتونولي د جرګو یو اولسي سیستم (نظام) دے چې ډیموکراتیک (جمهوري) خوی لري. جرګه کېدے شي چې د کورنۍ، کلي، منطقې، قبیلې، او قام په سویه منځ ته راشي، د ټول قام په سویه سره جرګې ته لویه جرګه هم وائي خو دا جرګې یو بل پورې تړلي نهٔ دي.

موقتي (عرضي) غیر مرکزي او خپلواکه بڼه لري. په هره جرګه کښې په خپله سویه سره لکه د سټیټ (هیواد، ریاست) په شان مقننه، عدلیه او اجرائیه قوه راغونډه شوي وي لهٔ دې کبله خپلو پرېکړو ته بې د بهرنۍ سرستې څخه د عمل جامې اغوستلے شي.

د پرېکړو د عملي کولو توان د جرګې د ګډون کوونکو د نفوذ د ساحې پورې اړه لري. کهٔ چېرته د جرګې د ګډون کونکو د نفوذ ساحه کوچنۍ وي او خپله پرېکړه عملي کولے نهٔ شي نو بیا په جرګه کښې نور داسې کسان زیاتیږي چې د نفوذ ساحه ئې د پرېکړو د عملي کولو د پاره بسیا وکړي.

د پښتنو جرګې د هر چا لهٔ خوا راغوښتل کېدے شي او ډیر وخت د کمزوري لهٔ خوا، او کله کله د پېښو د ضرورت لهٔ کبله بې لهٔ دې چې څوک ئې راوغواړي منځ ته راځي او خلق د جرګې لپاره بخپله راټولیږي، د جرګې د ګډون کونکو څرنګوالے او شمیر د پېښې او لانجې د څرنګوالي پورې اړه لري. جرګه ټولنیزې، سیاسي او حقوقي پرېکړې کولے شي، په جرګه کښې هیڅکله رائې نهٔ اخستل کیږي، په هغه موضوع باندې چې جرګه ورته رابلل شوې وي تر هغو خبرې او بحث کیږي چې یوې موافقې ته د ټولو په خوښه ورسیږي. او بیا پرې د دُعا لاس پورته شي. کله نا کله جرګه په لانجه کښې د برخه والو څخه واک اخلي او بیا د هر اړخ سره بیلې بیلې خبرې کوي، دا خبرې تر هغې دوام لري چې ټولو خواؤ ته قناعت ورکړے شي او روغې ته راضي شي.

د جرګې راغوښتلو او جرګې جوړېدو سربېره جرګه لیږل هم په پښتو کښې رواج دے. چاته چې جرګه ولیږل شي بیخ او خاطر ئې کوي او د ډیر څهٔ نه ورته تیریږي.

پښتونولي یو څو نظریاتي او فلسفي بنسټ لري چې په لاندې درې لړونو ولاړ دي.

۱) پښتو: پښتو یوازې د پښتو ژبه نهٔ ده، بلکې د یو شمیر صفتونو مجموعه ده لکه پت، ننګیالیتوب، توره، ننګ، میړانه او داسې نور. دا صفتونه هر پښتون کهٔ سړے وي کهٔ غریب بایده دي چې وې لري د پښتو بابا خوشحال خان خټک هم همدا خبره تائیدوي چې وائي:

درست پښتون د قندهاره تر اټکه
سره یو د ننګ په کار پټ او اشکار

پښتو د پښتنو ګډه پښکلا ده. ننګ چې د پښتو یوه برخه ده د هر پښتون ښایست دے او هیڅ پښتون په دې ښایست کښې د بل نه کم نهٔ دے. د پښتونولي ډیموکراتیک (جمهوري) خوی په پښتو یعنې په دې صفتونو کښې پروت دے چې ټول پښتانهٔ پکښې مساوي دي.

۲) دودونه او نرخونه: لکه روغه،


ډاکټر عبدالکبیر ستوری (جرمنی)

ناغه، ننواتې، سوله او داسې نور. کله چې د یوې جرګې پرېکړه د بلې جرګې لخوا ومنل شي او یا مختلفې جرګې په یوه لانجه کښې په ناپیلې توګه یو شانته پرېکړه وکړي نو دوخت په تیریدلو سره دود (دستور) یا نرخ ګرځي.

۳) پېغور: د پېغور په واسطه د پښتنو پښتو (صفتونه) په پوښتنه کښې اچول کیږي چې د پښتنو د تهذیب او کلچر بنهٔ خویونه پکښې نغښتي دي پښتو ویل او پښتو کول دواړه سره تړلي دي.

پښتونولي د پښتنو لیکوالانو سربېره د نړۍ د یو شمیر لیکوالانو پام هم ځانته راړاړولے دے او د خپلې څېړنې موضوع ئې ګرځولې ده. لهٔ دې کبله یو شمیر اروپائي پوهان خبرو ته پریږدو او بیا پرې لنډه تبصره کوؤ.

ماکس کلیم بورګ (Max Klimburg Afghanistan, Wien 1968) اطریشي پوهان د پښتونولي دلاندې د پښتنو یو معنوي یا حقوقي سیستم بولي چې تر ټولو ستره قضا (عدالت) ئې جرګه ده او لیکي چې، په جرګه کښې د ازادو ډیموکراتیکو کړو وړو سره سم د دائرولو لهٔ مخې نهٔ مشر لري او نهٔ د غونډې په وخت کښې هر تن د پاره ټاکلې ځایونه وي. سړي په ناپیلې ځائې کښې د همغاړو کسانو په ډله کښې ناست وي او هر څوک چې هر کله کهٔ وغواړي کولے شي چې پاخیږي خبرې وکړي او لاړ شي. د جرګې د پرېکړو لپاره د رایو ډیر والے شرط نهٔ دے. هیڅکله رائې نهٔ اخستل کیږي بلکې د مخالفو کسانو تشتوالے ارزښت لري، د جرګې د پرېکړو عملي کول د جرګې د ګډون کوونکو مهمه ټولنیزه دنده ده» همدغسې ویلي کروزي Willy Krause. Afghanistan Basel 1972 او ځینې نور بهرني لیکوالان پښتونولي یوازې یو دوباړ دود یا حقوقي دود کښې.

د پورتنیو لیکوالانو دا نظریه چې پښتونولي د پښتنو یوازې حقوقي دود یا سیستم دے سوبر ته بشپړه نهٔ

نور په دریم مخ

وحدت 14 مارچ 1998

## پاتې: پښتونولي

بریښي څکه جرګه چې د پښتونولۍ تر ټولو ستر مقام دی یوازې حقوقي پریکړې نهٔ کوي، بلکې ټولنیزې اوُ سیاسي پریکړې هم کوي. ددې خبرې ښهٔ مثال دادی چې پخپله احمد شاه بابا پهٔ (۱۷۴۷ع) د جرګې لخوا د افغانستان مشر ټاکل شوی دی، لهٔ دې کبله پښتونولي یوازې یوُ حقوقي سیستم نهٔ شي ګڼلی کیدلی بلکې ټولنیز اوُ سیاسي سیستم هم دی. د کلیم بورک داخبره سمه ده چې د پښتنو جرګه ډیموکراتیک (جمهوري) خوی لري اوُ هر څوک پکښې پهٔ ازادانه توګه خبرې کولی شي اوُ خپله نظریه څرګندولی شي خو داچې وائي چې جرګه مشر نلري پهٔ دې حقله پکار ده چې ووایُو چې جرګه مشر یا مشران لري خو دغه مشران دووټونو (رایو) لهٔ لارې نهٔ ټاکل کیږي بلکې عنعنوي منل شوي کسان دي دبیلګې پهٔ توګه پهٔ یوه جرګه کښې چې یوُ قومي مشر ناست وي نو سمدستي منل کیږي. دغه جرګه

دهغه دمشرۍ لاندې وشوه.

څینې نورپوهان وائي چې دجرګې سیستم چې یوُ ډیموکراتیک سیستم دی پهٔ پخوانیو قبیلوي ټولنو کښې موجود وُ کوم چې دپې طبقو ټولنو کلاسیکي اوُ لرغونه بڼه وه. کله چې طبقاتي ټولنه چې سټیټ ورسره مل وُ منځ ته راغله نو د جرګو دغه نظام هم دمنځه لاړ. پهٔ دې لړ کښې انګلس (Friedrich Engel: Der Usprung der Familie. Berlin 1974) دایروکزن Irokesen دسینیکاس Senekas قبیلې ته ګُته نیسي. دغه قبیله د څواناتو دنومونو پهٔ بنسټ پهٔ اتو خیلوُ وېشل شوې وه چې هر خیل یوه جرګه لرله چې بالغو نرانو اوُ ښځو پکښې دایو مساوي حق لرلو، دغې جرګې دسولې اوُ جګړې مشران ټاکلي اوُلرې کولی شو کهٔ څیرشونو وبه وینو چې دسینیکاس دقبیلې جرګه دطبقاتي ټولنې پهٔ منځ ته راتګ سره دمنځه لاړه. دپښتنو دجرګې د موجوده بڼې سره توپیر لري اوُ هغه دادی چې دسنیکاس دقبیلې پهٔ جرګو کښې دپښتنو جرګو برخلاف رائې اخستل کیدلې اوُ دائمي مرکزي بڼه ئې لرله ارکټ مټ سټیټ ته ورته وه. نو کله چې پهٔ طبقاتي ټولنه کښې پهٔ څکه سوبه سټیټ منځ ته راغی نو دغه جرګې ئې هم دمنځه یوړې څکه چې پهٔ جګه اوُ غوره سوبه سره تنظیم پهٔ ټیټه سوبه سره تنظیم دهماغه شان تنظیم ځانې نیسي اوُ دمنځه ئې وړي، خو دپښتنو جرګې دسټیټ یا هیواد پهٔ بر خلاف غیرمرکزي، خپلواک اوُ موقتي بڼه لري اوُ یوُ بشپړ اولسي ډیموکراتیک (جمهوري) سیستم دی چې د پښتنې ټولنې ټولې ربړې حلولی شي، اوُلهٔ دې کبله ئې سټیټ ځائې نهٔ شي نیولی بلکې بر خلاف لویه جرګه چې دقام دارادې ښکارندویه ده سټیټ جوړولی شي څکه چې قام دنړیوالو حقوقو دمخې دخود ارادیت حق لري اوُ کولی شي چې د خپلو چارو د سمبالښت لپاره یوُ تنظیم چې سټیټ (هیواد) نومیږي جوړ کړي اوُ یا د جوړ شوي سټیټ پهٔ ډډ اوُ بڼه کښې بدلون راولي، قام سټیټ جوړولی شي خو قام پهٔ سټیټ کښې منځ ته نهٔ راځي بلکې یوه کلتوري ټولنه ده چې ګډ تاریخ، یوه ژبه اوُ یوُ وطن لري. لهٔ دې کبله د لوئې جرګې مقام دسټیټ څخه اوچت دی اوُ پریکړه ئې معتبره اوُ د یوه قامي رائې اخستنې حیثیت لري چې د خپل سټیټ چې دقام دابادۍ نښه ده د جوړولو حق لري خو هیڅکله سټیټ اوُ یا پارلیمنټ چې دسټیټ یوه برخه ده اوُ یوُ دائمي جرګه ده دلوئې جرګې ځائې نیولی نهٔ شي.

داچې څینې خلق پهٔ بهر کښې دلوئې جرګې دراغوښتلو څخه خبرې کوي، ددوی دا خبرې د جرګې د اصولو پهٔ ضد کار دی څکه چې دغه جرګه خپلې پریکړې پخپله عملي کولی نهٔ شي

وحدت

چيف ايډيټرو پبلشر پير سيد سفيد شاه همدرد ورځپاڼه "وحدت" دپاکستان دحکومت
په تصديق دوحدت پريس خيبربازارپيښورنه څپروي، ايډيټرپيررحمدل شاه
ايډيټر: ظفرعلي شاه ګيلاني، پته: ورځپاڼه وحدت ۲۰ اسلاميه کلب بلډنګ
خيبربازارپيښور فون: ۲۱۴۰۲۴ ۲۱۴۱۵۴ فيکس ۲۱۴۳۳۱
Emile: wahdat@pes.comsats.net.pk

پنجشنبه (زيارت) ۱۶ اکتوبر ۲۰۰۳

# پښتانهٔ بايد ملي وحدت ته توجو وکړي، اجمل خټک

مستقبل کښې ديوې غټې اژدها صورت کښې پښتنو باندې مصيبت راروان دے، بايد پښتانهٔ ئې مخه ونيسي، سيمينار ته خطاب

**پاکستان کښې دټولو قومونو دپېژنګلو تسليمولو نه بغير دوفاق چليدل ګران دي، جلال محمود شاه**



پېښور پرېس کلب کښې ډيورنډ لاين په حقله دسيمينار عکس، اجمل خټک، ډاکټر کبير ستورے او افضل خان لاله سټيج ناست دي

CNI

پېښور وحدت خبريال دعوامي نېشنل پارټۍ مرکزي رهنما اجمل خټک وئيلي دي چې مستقبل کښې پښتنو باندې ديوې غټې اژدها صورت کښې مصيبت راروان دے چې پښتنو له اوس نه ددې مخ نيوے پکار دے او دملي وحدت طرف ته توجه ورکول پکار دي. د پښتونخوا قومي پارټۍ

باقي صفحه 5 کالم 5

ورځپاڼه پېښور
وحدت

**باقي اجمل خټک**

مشر محمود خان اڅکزي ... وستت لاندې دډيورنډ د کرښې په حقله سيمينار ته خطاب کښې دا وئيل چې د ملي وحدت نه علاوه دجدا جندې ضرورت نيشته بلکې دجرګو او اتحاد ضرورت دے چې قوم په کرښو نهٔ بلکې شناخت ئې جغرافيائي، لساني اوثقافتي وي څومره کرښې که راښکل شي قوم جدا کيدے نه شي. پښتنو ته که دخپل وحدت دپاره دجنګ ضرورت پيښ شي نو دې ته تړې نه ده پکار وطن دقوم نه دے قوم د وطن نه نهٔ دے دجئے سندهـ مشر جلال محمود شاه ووئيل چې پاکستان کښې د ټولو قومونو دشناخت دتسليمدو نه بغير دوفاق چليدل مشکل دي. ده وئيلي دي چې دشرې دقومونو ترمينځه فطري اتحاد جوړيږي اوس دکرښو اوحدونو په ذريعه څوک يو بل نه جدا کولے نه شي

دوشنبه (پير) (3) 6 دسمبر 1999ء

ورځپاڼه پېښور WAHDAT
وحدت

چيف ايډيټر و پبلشر پير سيد سفيد شاه همدرد ورځپاڼه "وحدت" د پاکستان د حکومت
په تصديق د منظور عام پريس خيبر بازار پيښور نه څپروي، ايډيټر پير رحمدل شاه،
پته: ورځپاڼه وحدت ۲۰ اسلاميه کلب بلډنګ خيبر بازار پېښور
ټيليفون: ۲۱۳۰۳۳، ۲۱۳۱۵۴، ۲۱۲۳۳۳ فيکس نمبر: ۲۱۳۳۲۱
Email: Wahdat@psh.brin.net.pk.

## «دستورى دقلم توره»

د «قلم توره» دنوبالي ملت پال شاعر ډاکټر کبير ستورى دشعري ټولګه نوم دے دا کتاب دپښتونخوا دپوهنې ديره پېښور په اهتمام خپور شوے دے، ددې شاعرۍ او شاعر پحقله ليکل لائق زاده لائق کړى دى داشعرى غونډ د ډاکټر کبير ستورى په ۱۰۵ نظمونو مشتمل دے ټول مخونه ئې يو سل نهه دى، پاڼه ئې رنګينه، کاغذ سپين او کتابت کمپيوټرى دے، ليکلي بيعه نهٔ لرى د کتاب ترون د خان عبدالولي خان او ميرمن نسيم په نوم شوے دے د پېښور بازار په کتابخانو کښې ترلاسه کيدے شي، ډاکټر کبير ستورے په المان (جرمنى) کښې مقيم دے.

## نوې ملالۍ

ډاکټر کبير ستورے

ځان دې سپيلنى کړه، ځارد خپلې پښتونخوا نه شه
اے ښتنې پيغلې د پښتو دباغ باغوانه شه
دا پښتنه خاوره دوخت نوې ملالۍ غواړى
جوړ کړه بولېکر دپيغلو سخکښې ئې روانه شه
وخت نهٔ ايسارېږى قافلې دژوند روانې دى
دروسه دمنزل پهٔ لور ديوه بله روښانه شوه
ستورے به قيصې ستا دميړانې او غيرت کوى
پورته کړه جنډه دپښتون جګه تر اسمانه شه

THE FIRST PUSHTO DAILY OF PAKISTAN

ABC CERTIFIED

په ټول ملک کښې د پښتو د ورځپاڼه

MEMBER APNS

ورځپاڼه پېښور

THE DAILY WAHDAT PESHAWAR

# وحدت

چیف ایډیټر: پیر سفید شاه همدرد

د جمعې ورځ، یکم د ربیعه حور ... [illegible] ... 2054، جلد 12، شماره 240

بیعه څلور (4) روپۍ

17 oktober 2003

## د اقتصادي حالت نه کیدو دپاره پښتنو ته پخپلو وسیلو اختیار پکار دے، حاجي بلور

### ډیورنډ لائن که یو خوا د پاکستان سرحد دے خو بلخوا ددې کرښې په وجه پښتانه تقسیم شویدي

پېښور (وحدت خبریال) د اے این پی مرکزي مشر حاجي غلام احمد بلور ، ویلي دي چې د پښتنو اقتصادي حالت به هغه وخت ښه کیږي کله چې پښتنو ته پخپلو وسیلو اختیار حاصل شي زمونږ جماعت ددې مقصد دپاره هلې ځلې کوي. د زیارت په ورځ پېښور پریس کلب کښې د پښتون قامي جرګې په نامه دوه ورځنۍ کانفرنس ته د تقریر په وخت دۀ وونیل چې خان عبدالغفار خان باچا خان د پښتنو د حقونو دپاره کومې قرباني ورکړي دي د نړۍ یو لیډر هم د قامي حقونو د پاره نه دي ورکړي. دۀ وونیل چې د پښتنو د حقونو د پاره د هر کوم مشر په مشرۍ کښې چې کار کیږي مونږ ئې هر کلے کوو. دۀ وونیل چې زمونږ د پارټۍ د مشرانو کردار د چانه پټ نه دے دۀ وونیل چې خلق وائي چې د صوبې د نوم بدلولو سره به د غوړو اوړو نر خونه راکم نه شي مونږ وایو چې د صوبې نوم بدل شي نو پښتنو ته به شناخت په لاس ورشي. دۀ وونیل چې د ډیورنډ لائن یو حیثیت دا دے چې د پاکستان سرحد دے نو ددې دویم حیثیت دا دے چې دې پښتانه تقسیم کړي دي. دۀ وونیل چې هندوستان عالمي طاقتونو اوویشلو اوس وارۀ قومیتونه د پنجاب د لاس لاندې دي. دۀ وونیل چې انګریزانو رومبے د ډیورنډ لائن په ذریعه پښتانه تقسیم کړل او دلته ئې هم پښتانه یو ونۀ ساتل او ددوی شناخت ئې ختم کړے دے. دۀ وونیل چې ون یونټ په حقیقت کښې ګریټر پنجاب ؤ. دۀ وونیل چې د پاکستان د جمهوریت نوم په حقیقت کښې د پنجاب د امریت نوم دے مختلف قامونه که یو کیدے شي نو پښتانه ولې نه شي کیدے دۀ وونیل چې د پښتنو په وسیلو نورو قبضه کړې ده ددې د خاصلولو دپاره د اتحاد ضرورت دے

THE FIRST PUSHTO DAILY OF PAKISTAN

ABC CERTIFIED

په ټول ملک کښې د پښتو د روميې ورځپاڼه.

MEMBER APNS

ورځپاڼه پېښور

THE DAILY WAHDAT PESHAWAR

وحدت

چيف ايډيټر: پير سفيد شاه همدرد

د دوشنبې (بهار) ورځ، ۲ لونۍ اختر، ۱۴۱۷ هـ ق، ۱۵ غويي (ثور) ۱۳۷۶ هـ ش، 5 مئی 1997ء، 22 چيتر 2054 ب، جلد 12، شماره 120

## د کبير ستوري «ژوندي خيالونه»




«ژوندي خيالونه» د پښتنو د بر کاله د ملت پال پښتون شاعر اديب او علمي شخصيت ډاکټر کبير ستوري د شعرونو مجموعه ده چې اوس اوس خپره او خوره شوه په دې مجموعه کښې چې کوم نظمونه، غزلونه، ترانې، سندرې او شعر ټوټې شاملې دی په هر يوه ټوکی کښې ئې د خپلې خاورې او ملت مينه په غوړځنګ ده په کتاب سريزه ستر ادبي او سياسي شخصيت اجمل خټک ليکلې ده او د ليکوال لنډه پيژندګلو د کتاب په شاتنی مخ درج ده ترون ئې د محمد افضل خان په نوم شوېدے د کتاب مخونه اته اتيا سرپاڼه ښائسته، کاغذ سپين او کتابت کمپيوټری دے علاقمندان ئې د پېښور د لويو بکسټالونو څخه ترلاسه کولے شی.

ABC CERTIFIED

THE FIRST PUSHTO DAILY OF PAKISTAN

MEMBER APNS

په ټول ملک کښې د پښتو ورومبۍ ورځپاڼه

ورځپاڼه پېښور

# وحدت

چیف ایډیټر
پیر سفید شاه همدرد

رجسټرډ پي نمبر 27

دجمعې ورځ 20 شعبان المعظم 1424 هـ ق، 24 تله میزان 1382 هـ ش
17 اکتوبر 2003ء، 29 اسو 2060 ب، جلد 28، شماره 285، بیعه 4 روپۍ

## د ډیورنډ لائن لوظنامه د حاکم او محکوم ترمنځ وه، افضل خان

### پیرنګیانو د خپلو مفادو دپاره پښتانه په څلورو برخو ویشلي وو

### د دواړو ملکونو حکومتونه د پښتنو د قومي وحدت دپاره خپلو کښې خبرې وکړي د سیمینار وروستی برخې ته خطاب

### لطیف اپریدی، حاجي بلور، سکندر شیرپاؤ، سلیم سیف الله، کبیر ستوري، ولي محمد خلیل، میا افتخار او نورو شخصیاتو هم تقریرونه وکړل

پېښور (وحدت خبریال) د پښتون قومي جرګې کوربه او د پښتونخوا قومي پارټۍ مشر افضل خان د پاکستان او افغانستان حکومتونو نه مطالبه کړېده چې د

باقي صفحه 5 کالم 2

**پاتې :: افضل خان لاله**

دډیورنډ کرښې دواړو خواؤ ته د ابادو پښتنو دقومي وحدت دپاره خپلو کښې خبرې او اقدامات وکړي او دکرښې نه دتیریدو راتیریدو دپاره دپاسپورټ په ځای دې د ریډپاس په ذریعه د تلو راتلو اجازت ورکړے شي. تیره ورځ د دوه ورځنې پښتون قومي جرګې اخري سیشن ته خپل خطاب کښې دهٔ وونیل چې د ډیورنډ کرښې لوظنامه دحاکم او محکوم ترمینځه وه. پیرنګیانو دخپلو مفاداتو دپاره پښتانه په څلورو برخو ویشلي وو. نن چې ټول خوارهٔ وارهٔ قامونه رایوځای کیږي پښتنو ته هم متحد کیدل پکاردي. په دې موقع لطیف اپریدی وونیل چې د ډیورنډ لائن ختمولو دپاره به دپاکستان او افغانستان پښتنو ته قرباني ورکول وي دهٔ وونیل چې دا کرښه به د حکومتونو نهٔ بلکې دعوامو په کوششونو ختمیږي. دهٔ افغاني چارو کښې د لاس په نه وهلو زور راوړو او قبائیلي علاقو کښې دفوځ د تعیناتي مخالفت ني وکړو. په دې موقع رحمت شاه سائل هم تقریر وکړو ډاکټر کبیرستوري په خپله وینا کښې وونیل چې دافغانستان او پاکستان وروستي حالات د دې خبرې ښکارندوي کوي چې د دواړو قومونو چې دډیورنډ دکرښې نه یوې اوبلې خوا ته پراتهٔ دي ګټې او تاوانونه ني شریک دي. د عوامي نیشنل پارټۍ حاجي غلام احمد بلور په خپله وینا کښې وونیل چې پښتانهٔ ترڅو وینش او یو موټے نه شي یوه مسئله هم نه شي حل کولے دهٔ دپښتنو په یوکیدو زور راوړو. دپیپلزپارټۍ سکندر شیرپاؤ بیا په دې نظر وونیل چې په دغه حساس وخت کښې د ډیورنډ کرښې په غیرمتنازعه مسئلې راخیژل دپښتنو په ګټه نه تماميږي. دمسلم لیګ قائداعظم ګروپ سلیم سیف الله زیاته کړه چې دپاکستان دپښتنو نورې ډیرې مسئلې دي چې باید حل شي. ولي محمد خلیل خپله وینا کښې وونیل چې د ډیورنډ کرښه په کال ۱۸۹۳ کښې دسیاسي فشارونو له کبله دهاغه وخت د واکمن امیرعبدالرحمان خان او انګریزانو ترمینځ لاس لیک شوه خو امیرحمزه مروت بیا په دې نظر وُچې دا دیو ظالم او مظلوم ترمینځ معاهده وه. او دهاغه مهال دپښتنو مشرانو او پوهانو کمزوري وه. چې د دغې فرضي لیکې پوښتنه ني ونه کړے شوه. اقبال خیبروال په خپله وینا کښې وونیل چې د ډیورنډ په لیکه د افغانستان دریځ واضحه دے په شپږویشتمه جولايي کال ۱۹٤۹ کښې د افغانستان یوې لویې جرګې دانګریزانو سره ټولې معاهدې ماتې کړې وې. چې د ډیورنډ کرښه هم پکښې شامله وه. ډاکټر سید عالم په خپله وینا کښې وونیل چې د ډیورنډ کرښه نه افغانستان منلې ده. او نه دپاکستان پښتنو سیاسي ګوندونو . نو داخبره باید سپینه او دا مسئله باید حل شي. دهٔ وونیل چې زهٔ دملت پالو ګوندونو نه یوه پوښتنه کول غواړم چې د ډیورنډ کرښه په مارګله کښې ده. او که جهلم کښې. د عوامي نیشنل پارټۍ میا افتخارحسین وونیل چې، موږ په دوؤ کښې راګیر یو. دپاکستان په اسمبلي کښې د دغه ملک د وفاداري قسم هم خورو او د افغانستان سره دیو والي خبره هم کوو. دیادونې وړ ده چې دافضل خان لاله رابلل شوي سیمینار کښې اکثرو پښتنو مخالفو سیاسي شخصیتونو د یو بل خبرې واوریدلې هم دا راز هریو په دې خبره زور اچولو چې باید پښتانهٔ یو شي.

ورځپاڼه وحدت پېښور

ABC CERTIFIED

په ټول ملک کښې د پښتو ورځپاڼه

MEMBER APNS

ورځپاڼه

THE DAILY WAHDAT PESHAWAR

پېښور

# وحدت

چيف ايډيټر: پير سفيد شاه همدرد

رجسټرډ نمبر ۲۷ ... بيعه غلور (4) روپۍ

د سه شنبې (نهې) ورځ، ۹ بارهٔوفات ۱۴۱۸ هـ ق، ۲۳ چونګښ (سرطان) ۱۳۷۶ هـ ش، 15 جولائی 1997ء، 31 هاړ 2054 ب، جلد 12، شماره 190

## پښتانهٔ نور د يو بل نه بيل نشي پاتې کيدې، افضل خان

### نړۍ په يو عالمي اتحاد کښې د راغونډيدو لارې چارې لټوي

سوات (وحدت خبريال) د پښتونخوا قومي پارټۍ مرکزي مشر، پخواني وفاقي وزير او قام پرست لاربود په خپل يو بيان کښې وئيلي دي چې پښتون د يو وحدت نوم دې او غلور دېره سل کاله وړاندې يو استعماري قوت دا وحدت ځکه د يو سازش ترمخه ټوټې ټوټې کړو چې هغوی د دې تنګيالي اولس نه

باتې صفحه آخر شپږم کالم

**باتې :: محمد افضل خان**

خپله بدله اخستل غوښتل دا خبرې محمد افضل خان د جرمنۍ د ښار کولن نه په واپس کيدو خپل کلي د روشخيله سوات کښې د سپين روبو بولوې ډلې ته کولې. قامي مشر ووې چې اوس د ټولې نړۍ حالات داسې دي چې د قامونو ترمنځه فاصلې ختميږي. د جرمنۍ د يو کيدو نه پس هانګ کانګ هم تقريباً يوه نيمه صدۍ پس بيا د چين لمنې ته لاړو. دا د دې خبرې واضح ثبوت دې چې نن د عالمي اتحادونو دو ،ر دې پښتانهٔ نور ډيره موده د يو بل نه بيل نهٔ شي پاتې کيدې. د ډيورنډ د کرښې اوس هيڅ قانوني حيثيت نشته ځکه چې د دې کرښې نه دواړو غاړو ته د يو نيکهٔ اولاد اوسيږي. د يو کلتور، يوې ژبې خاوندان ژوند کوي. نو دوی به تر کومې پورې په خپلو کښې داسې ډلې ډلې او لرې لرې پراتهٔ وي. محمد افضل خان ووې چې په جرمنۍ کښې د پښتو د يو والي د ورځې په مناسبت سره کيدونکي غونډه کښې د کنيو قام پرستو، تنظيمونو نه علاوه د نورو افغان تنظيمونو غړي هم د کنيو هيوادونو نه راغلي وو. او د هر يو کس په زړه کښې هم دغه ارمان وو چې هغه سباوُن به کله راځي چې د پښتون قام د سرې دا د تقسيم غورزنګ وځي. دوی په دې لړ کښې په جرمنۍ کښې د پښتون ټولنيز او اولسيز ګوند مشر کبير ستوری ته خراج تحسين پيش کړو چې د دومره لوئې مرام د پاره په هر ډول چټک ګامونه اخستي دي. پخواني وفاقي وزير ووې نن چې نړۍ په يو عالمي اتحاد کښې د راغونډيدو لارې چارې لټوي د يوې کرنسۍ خبرې کيږي نو بايد چې پښتون اولس هم د خپل قامي وحدت د پاره سوچ و کړي. خپل ځان و کتې دا نهٔ صرف د پښتون قام خپله ذمه واري ده بلکې د نړۍ د لويو قام پرستانو هم دا اخلاقي او سياسي ذمه واري ده چې د پښتنو د يو والي د پاره ټولې لارې چارې برابرې کړي. محمد افضل خان ووې چې زمونږ د اتحاد نه بغير او زمونږ د سوُ کالي نه بغير په ټوله ايشياء بالخصوص او په ټوله نړۍ کښې بالعموم امن نهٔ شي قائميدې.

نهې (سه شنبه) ۱۵ جولائی ۱۹۹۷ء

THE DAILY WAHDAT PESHAWAR

چارشنبه ۸ اکتوبر ۱۹۹۷ء

THE DAILY WAHDAT PESHAWAR

ورځپاڼه پېښور

وحدت

# د نړۍ نوي نظم د پښتنو څخه نوې سوچ او فکر غواړي

د شوروي اتحاد د رنګېدو وروسته د دوو ستروځواکونو نظريه خاورو ته وسپارل شوه چې نړۍ ئې په دوو برخو وېشلې وه او حتی د نه بېلېدونکي قانونو ترمنځ ئې کرښه راښکلې وه. اوس په نړۍ کښې يو ستر ځواک باقي دے چې هغه د امريکا متحده ايالتونه دي. نړۍ د اقتصادي مفاداتو په بنسټ په کوچنيو او غټو وحدتونو باندې وېشل کيږي چې دې ته د نړۍ نوے نظم وائي. داچې د نړۍ د دې نوي نظم بنسټ اقتصاد دے نو په يوه منطقه کښې هغه ملکونه چې ګډ اقتصادي مفادات لري په يوه اتحاد يا سنډهي کښې راټوليږي. د ملکونو په منځ کښې جغرافيائي پولې خپل اهميت د لاسه ورکوي چې بېلګه ئې اروپائي هيوادونه دي.

سياست د اتحاد يا سنډهي د کبو د ساتلو د پاره منطقوي خوي پيدا کوي او قوم د اتحاد يا سنډهي د امن په خدمت کښې راوستل کيږي د اد پښتنو څخه هم نوے فکر او سوچ غواړي چې خپل سياست ته سيمه ايزه (منطقوي) بڼه ورکړي او د ټولې منطقې سياست ئې وګرځوي او په يوه غټ چوکاټ کښې د خپل قامي وحدت په لور روان شي.

ترکمنستان ته د پاکستان او افغانستان په خاورو کښې د تجارتي لار جوړيدنه زموږ په سيمه کښې د سنډهي د جوړيدلو او ابادي نښه ده. د الاره موږ ته دا هم را په ګوته کوي چې د افغانستان او پاکستان مفادات په اوسني وخت کښې شريک شوي دي. د مفاداتو شريکوالے د دواړو ملکونو ترمنځ د نږدې والي ضرورت پيدا کوي او د افغانستان او پاکستان ترمنځ د کنفډريشن بنسټ ګرځيدلے شي. د دې تجارتي لارې د پاره چې نه يوازې د افغانستان او پاکستان په ګټه ده بلکې د مرکزي اسيا د نورو خپلواک سوو هيوادونو په ګټه هم ده. په افغانستان او منطقه کښې امن بکار دے خو د امن د منځ ته راتګ څخه ايران او روسيه نيسي داځکه چې ايران خپله د انرژۍ چينې لري. په دې کښې ځانته تاوان وينې، چې په څنګ کښې د ترکمنستان د انرژۍ د چينو څخه کار واخستل شي نو د يوې خوا په افغانستان کښې به امن جوړوي او د بلې خوا د دې څخه کوي چې د اتجارتي لاره د ايران د لارې څخه تېره شي او هر څه ئې په خپله قبضه کښې وي. همدغه شان روسيه چې د ترکمنستان څخه ئې په خپله خاوره کښې د انرژۍ نلونه غزولي دي نه غواړي چې د انرژۍ بل ځائې کښې اخستونکي ولري او په دوی باندې د انرژۍ قيمته شي ځکه چې هر څومره چې د دې انرژۍ پسې تقاضا زياتيږي هغومره ئې بيه جګيږي.

له داچې په افغانستان کښې اوسني جګړه د سنډهي او اقتصادي مفاداتو جګړه ده د يوې خوا د پاکستان او افغانستان او د مرکزي اسيا د نوو خپلواکو هيوادونو مفادات او د بلې خوا د ايران او روسيې مفادات دي. په دې کښې د امريکا متحده ايالاتونه مهم رول لوبولے شي چې نه يوازې د نړۍ يوازنے ستر ځواک دے بلکې د خپلو ملګرو سره يو ځائې د انرژۍ ستر اخستونکے هم دے. د ايران له لارې تجارتي لاره د انرژۍ د اخستونکو هيوادونو د پاره ډېره د خطرو ډکه ده ځکه چې ايران به ئې د خپلو اقتصادي ګټو د پاره په مختلفو بهانو بندوي او د خپلې انرژۍ خرڅلاو د پاره به بازار ګرم ساتي. د افغانستان او پاکستان په خاوره کښې لاره نه يوازې بې خطره او د داد ور ده بلکې د افغانستان او پاکستان او مرکزي اسيا د هيوادونو د هوسايي او ابادي او په يوه سنډهي کښې راټولېدو بنسټ دے. د اله يوازې د منطقې بلکې د ټولې نړۍ په ګټه ده د دې هدف د پاره په افغانستان کښې د جګړې او قومي دلو ټپلو د ختمولو نو ده هله ځله بکار ده چې امن او ټيکنيت منځ ته راشي او په دې تو ګه د ګړ ګوندېزي پارلماني اولسواکۍ د پاره شرائط برابر



ليک: ډاکټر کبير ستوری

شي، چې ټول سياسي ګوندونه د وطن په ابادۍ کښې برخه واخلي او هر چاته پکښې د دې امکانات ورکړے شوي وي چې خپل سړيتوب (شخصيت) ته په ازادانه تو ګه وده ورکړي او هم پکښې وروڼه قامونه (پښتون ازبک هزاره او تاجک) په فدرالي بڼه کښې د ملک په سياسي، اقتصادي، او کلتوري ژوند کښې عادلانه برخه ولري.

د نړۍ اوسنے تاريخي پړاو د اولسونو او قامونو ترمنځ د صلحې او ورورولئ په هڅو ولاړ دے د جنګ جګړې او دښمنۍ ځائې صلحه او ورورولي نيسي، وا کمن بدليږي او قامونه پاتې کيږي د قامونو په منځ کښې ورورولي او يو ځاوندېتوب د ليکمرغۍ نښه ده. د افغانستان او پاکستان ترمنځ کنفډريشن د ګډو مفاداتو د دفاع د پاره د وخت ضرورت دے. او د پښتنو د قامي وحدت په لور يو غټ ګام دے چې په سيمه کښې د صلحې امن ټينګښت او هوسايي تضمين دے.

THE FIRST PUSHTO DAILY OF PAKISTAN

MEMBER APNS

په ټول ملک کښې د پښتو ورځپاڼو کښې وړه ورځپاڼه

ABC CERTIFIED

ورځپاڼه پېښور

THE DAILY WAHDAT PESHAWAR

# وحدت

چیف ایډیټر: پیر سفید شاه همدرد

د دوشنبې (پیر) ورځ ۱۱ د ربیعه خور ۱۴۱۸ هـ ق، ۲۴ وږي (سنبله) ۱۳۷۶ هـ ش، 15 ستمبر 1997ء، 32 بادرو 2054 ب، جلد 12، شماره 250

## د ډاکټر کبیر ستوري «ژوندي خیالونه»



لیک: محمد اجمل خټک

څوک په رضا د مسلکه نه ځي
یا ډیر غریب شي یا د یار د غمه ځینه

د دې لیک په تندې لیکلې شوې لنډۍ بوه مشهوره ټپه ده او تر اوسه پورې د پښتنې دنیا د زړه اوازونه ماته نن د کبیر ستوري په تعلق رایاده شوه زمونږ دا ستوړے د کونړ د طبعي ښکلا د لمنې نه د جرمنې د صنعتي تمدن د غرغور فضا ته رسولو کښې د یار د غم ډیره برخه ده البته یارۍ هیواد وے ځکه ئې نن ټول ژوند یو داسې روښانه هنداره ده چې په کښې د ده د زړه، ذهن، فکر او عمل هر اړخ کښې د وطن مینه او د ملت درد جوت او تود ښکاري که وے تعلیم کښې لګیا وی که د روزی په تابیا مصروف وی نو «دست در کار او دل با یار وی» او چې دې دوران کښې څه وخت پیدا کړی هغې کښې هم د نوي تمدن او تهذیب په مست او رنګین ازاد ماحول کښې سیل، تفریح، او مزې چرچې نه کوی بلکې د هیواد او ملت د پاره ټول او زیار کوی د ذهن هر قوت، د قلم هر کښش او د وخت هره شیبه خپل اولس کښې که هیواد کښې وی که بیرون دنیا کښې د وطن د مینې او خدمت جذبه را او لړزوی ملي احساس پیدا کړی د بیداری وینه ګرمه کړی او د تس نس غیرتي اولس نه د قومي وحدت یو قوت جوړ کړی چې خپل جنت هسې وطن د کورنو او بهرنو غاصبانو د زېلو، لوټلو او خرابولو نه وساتي او د ژنکې په مخ ترې په رښتیا جنت جوړ کړی

په دغه لیوني مینه او رښتني هوډ په جرمنې او یورپ کښې هم ورځ او شپه لګیا وے د وطن والو د تیارولو راغونډولو او منظم کولو د نده ئې د عمر سره سمه خپله کړې ده د هیواد والو ذهن روښانه کولو او د سراب لاره روښولو د پاره ئې قلم دلاسه غورزولے نه وے او لرو بر پښتونخوا ته ئې هم ځان رسولے وے تر خپله وسه ئې د ملي تحریک او ژواک خدمت کړیدے او کوی تر دې چې د یو شاعر او انسان په حیث ئې احساس جمال د بشري حسن نه هم متاثر کړی نو زمونږ په ستوري د ملي ژوند د ښائیست د احساس چپه راشي او وے د ژوند په غرزو برزو او د ادب او شعر په ذوق کښې د خپلې خاورې او اولس ترجمان شي رښتونے پښتون شي چې د شعرونو دغه مجموعه «ژوندي خیالونه» لکه د ده د نور شعري او نثري ادب زما د دې وینا ثبوت وے هر څوک چې ئې لولي دا خوند او رنګ به پکښې وینې

زه چې د خپل ښاغلي ستوري دا کتاب «ژوندي خیالونه» بیا بیا لولم نو هر ځل پکښې راته د ده د خپل ملي مرام سره د ژورې او عمري مینې خصوصاً د سوچه پښتو او سپڅلې پښتونوالې د غیرتي احساس او لیوني ترون داسې شعور او فن ښکاري چې په ښکلي رنګ کښې د خاورې ننګ او د وینې غورزنګ د مثالي اشعارو رنګینه او حسینه جامه اغوستې وی او س چې دا څو الفاظ لیکم نو د خپلې رایې د ثبوت د پاره هم راته ډیر اشعار را او ړاندې شول خو زه چې خبره اوږدول نه غوارم نو هغه دلته نه لیکم او د دې کتاب په معنوي او ادبي اړخونو هم بحث کول نه غوارم «مشک انست که خود ببوید نه که عطار بگوید»

المختصر زمونږ د مسافر ستوري دا کلام «ژوندي خیالونه» په پښتو ژبه د پښتنې وینې او مینې د پښتنو د ننني او پروني زخمونو او سباني ارمانونو او پښتونوالې د ژوند او مستقبل د پسرلي وږمې دی دلته د ده دا شعر ضرور لیکم چې د خوشحال بابا نه واخلې د فخر افغان بابا او تر ستوري پورې د هر ننګیالي مشر کشر پښتون ارمان وے

دا ستورے د پښتون د خپلواکي به هله
روڼ شي
چې واړه پښتانه په یو مرکز ټول شي
جرګه شي

موټرېږدپاره هم الله کافي دے او هغه تر ټولو بهتر مددګار دے (القرآن)

Daily wahdat Peshawar

چیف ایډیټر
پیر سید سفید شاه همدرد

ورځپانه
# وحدت

پېښور
پاکستان

ایډیټر
سید هارون شاه

رجسټرډ ایل نمبر ۲۷

ABC CERTIFIED

فون: 2214154 فیکس: 2214321

شنبه (خالي)، 25ربیع الاول، 1428هـ ق، 1جیټ، 2063، جلد نمبر 32
14 اپریل 2007ء، 25وري (حمل) 1386 هـ ش، شماره 100، بیعه 5 روپۍ

۱۴ اپریل ۲۰۰۷ء



داروابناد ډاکټر کبیر ستوري د دروهمبی تلین په مناسبت جوړي شوي غونډه کښې افضل خان لالا پروفیسر جهانزیب نیاز، پروفیسر ډاکټر اعظم او ډاکټر شېرزمان طائزے په سټیج ناست دي.

# د پښتنو قامي وحدت سره پښتوژبه او کلتورووده کولے شي، افضل خان لاله

## پښتانه په څوبرخوویشل شوي اودوی ترمینځ دراښکل شووکرښودرسمي کولوهڅې رواني دي

## پاکستان کشمیر کښې دازغن تارغزولومخالفت او په افغان پوله ئې دغزولوپخپله وړاندیزکوی

## دکبیرستوري دتلین په مناسبت جوړي شوي غونډې نه مختاریوسفزی، جهانزیب نیاز، پروفیسر شاه جهان، قیصرخان اونوروهم تقریرونه وکړل

پېښور (مدثر شاه) پښتنو چې ترڅو قامي وحدت نه وي ترلاسه کړے تر هغه پښتون کلتور او ژبه وده نه شي کولے. د قامي یوالي دپاره د ډاکټر کبیر ستوري خدمات او زیار د هیریدو نه دی او باید ټول پښتانه دکبیر ستوري دغه لار خپله کړی. دا خبره د عوامي نیشنل پارټۍ مشر افضل خان لاله تیره ورځ د نومیالي سیاست وال، پوهان، لیکوال شاعر او څېړن کار کبیرستوري دوړومبی تلین په مناسبت دعالمی پښتو کانګریس د سیوری لاندې جوړې شوې، غونډې ته دخطاب په وخت وکړه. غونډې ته د پښتونخوا ملي عوامی پارټۍ صوبائی صدر مختیار یوسفزی، دعالمی پښتو کانګریس چیئرمین پروفیسر جهانزیب نیاز، پروفیسر شاه جهان، قیصر خان ایډوکیټ، معظم خان، میرمن معراج همایون، ډاکټر انور ظفریاؤ نورو ګڼو لیکوالو شاعرانو او سیاستمدارو وینا وې وکړې. په دې موقعه افضل خان لاله ووئیل چې کبیرستورے هغه سیاست وال، ادیب او څېړن کار ؤ چې خان له ئې هدف ټاکلے ؤ او د دغه هدف ترلاسه کولو دپاره ئې نه ستړې کیدونکې مبارزه کوله. دهٔ زیاته کړه چې زمونږ بدبختي ده چې مونږ په څو ټوټو ویشل شوي یو او دپښتنو ترمینځ راښکل شوو کرښو ته د رسمي شکل ورکولو هڅې رواني دي. افضل خان لاله ووئیل چې نن هند پاکستان نه شکایت کوی چې پاکستان په کشمیر کښې مداخلت کوی او غوښتنه ترې کوی چې دکشمیر سرحد باندې دې ازغن تار وغزول شي. خو پاکستان ددغې تار مخالفت کوی. دغه رنګ افغانستان هم ګیله من دے چې پاکستان په افغانستان کښې لاس وهنه کوی نو په دې موقعه پاکستان افغانستان ته وړاندیز کویچې باید په پوله ازغن تار ولګول شي. چې مقصد ئې دا دے چې د ډیورنډ کرښه رسمي بڼه ومومي. دهٔ ووئیل چې قامي وحدت ترلاسه کول زمونږ قانوني او ائیني حق دے. او افغانستان ته د امریکایانو په راتلو دې منطقه کښې دبدلون نخښې په واضحه ډول ښکاری. د ډاکټر کبیرستوري د تلین په موقعه جوړې شوې غونډې ته د پښتونخوا ملي عوامي پارټۍ صوبائی صدر مختیار یوسفزی ووئیل چې مذهبي ګوندونه دپښتون ثقافت تباه کول غواړي.

نن په ټانک حملې کیږي، بنو کښې اور بل دے او دپښتنو دښمنان دلته داسې حالت جوړول غواړی لکه څنګه چې څه موده وړاندې افغانستان کښې وو. د ډاکټر کبیر روح مونږ نه غوښتنه کوی چې ددې مسائلو دمخنیوی دپاره مونږ شریک غورځنګ جوړ کړو. غونډې ته قیصر خان ایډوکیټ ووئیل چې د پښتون کلچر دپاره د ډاکټر کبیر خدمات خلنده دی. نن د پښتو موسیقۍ سره د ترلو خلقو بې عزتي کیږي.

چې دا نه یوازې د دغه خلقو بې عزتي ده بلکې ټول پښتون قام او کلتور ته سپک کتل دی. مونږ باید په دې خبرو خاموشه پاتې نهٔ شو. د ډاکټر کبیرستوري پخواني ملګری ډاکټر انور ظفری په دې موقعه ووئیل چې ډاکټر کبیرستورے یو نرم او ساده ژوند تیرونکے انسان ؤ. په سیاسی ژوند کښې هغه سره ډیر رازونه وو. خو خپلې مفکورې سره دومره مخلص ؤ چې ډیر رازونه ئې قبر ته خان سره یوړل. دهٔ ووئیل چې د ستوري دغه تحریک دې جاری وساتل شي. په دې موقعه ګڼو شاعرانو ډاکټر کبیرستوري ته د عقیدت پیرزوینو لړی کښې خپل کلامونه واورول. د غونډې په پای کښې د عالمی پښتو کانګریس لخوا ورځپانې وحدت ته دپښتو ادب او کلتور د خدماتو په اعتراف ستورے ایوارډ ورکړل شو. دغه رنګ ددهٔ نور ایوارډونه پروفیسر جهانزیب نیاز او اسدالله دانش ته هم د دوی د ادبي او فرهنګي خدماتو په اعتراف کښې پیش کړے شول.

THE FIRST PUSHTO DAILY OF PAKISTAN

ABC CERTIFIED

په ټول ملک کښې د پښتو وروميې ورځپاڼه

MEMBER APNS

بیعه څلور (4) روپۍ

ورځپاڼه پېښور

THE DAILY WAHDAT PESHAWAR

وحدت

چيف ايډيټر: پير سفيد شاه همدرد

شنبه (خالی) (3) 19مئي 2001ء

# د ډاکټر کبير ستوري «ويره»

دشپې په خوره غيره سرې مې اوچه کلکه شوه.
کښې خاموشي اړخونه بدلول. اوسترگې مې نورې هم واړې
ولې په دغه خاموشي کښې کړې. په کمره کښې ما د چا
دناقراری يو داسې کيفيت زه په موجوديت بيابيا محسوسوله. څو ليدے. خوچې په بق بق ئې وخندل
سخه اخستے وم چې ساورله ځلله مې اراده وکړه چې پاڅم نو مائې په توره تياره کښې لوئې
دلفظونو لټون نشو کولے. دټولې اوبجلی بله کړم. خو هر اندام مې لوئې غاښونه وليدل. چې څومره
ورځې د تودو سړونه پس مايله کلک ونختو. په ټول وجود مې کلمې راته يادې وې هغه مې په
دړه لکولې وه اوبه دغه خاموشي نرې نرې خوله را ماته شوه. ماهيڅ ځان چف کړې. خو «دوارخطايی»
کښې مې د اوده کيدو کوشش فيصله نشوه کولے. په زور مې او «ويرې» په وجه پوهه نشوم چې
کولو څوځله مې سترگې پټې سترگې پټې کړې. ديوساعت کومه کلمه مې کله ووئيله زره
کړې. ولې بيا به مې لاشعوری دپاره مې دغه وهم او دغه ويره راته وئيل چې «چغې کړه» ولې
طورسترگې پرانستې. ماپه توره هيره کړه ولې ساعت پس مې بيا د دخلې نه مې اواز چرته وتو ټوله
تياره کښې کيرچاپيره وکتل. دروازې اواز محسوس کړو. شپه مې په داسې حال کښې تيره
ناڅاپی مې داسې محسوسه کړه داځل چې مې په تياره کښې وکتل کړه. چې رڼا ولګيده نو په
لکه چې د کمرې دروازه چا خلاصه نو يو غټ پټ سپے راته مخامخ وارخطايی مې دروازې ته وکتل
کړې وه. دزړه درزاسې سپواشوه. ولاړ ؤ. مادهغه سترگې نشوې دروازه هم هغسې بنده وه. مادشپې
نه بنده کړې وه. په کمره کښې مې
دچادپښوخاپی ولټول خو هيڅ هم

## کتابونه اتنې





(لائق زاده لائق)

نه وو. مايوه لپه اوبه وڅښې او
ديوې اوږدې ساه اخستو سره مې
دوسره قدرې ووې « چې بلا وه ېږے
ئې نه ؤ»

دابلا. داويره داوهم او
داگمانونه زمونږ دلاشعور نه
شعورته راځی او قدم په قدم زمونږ
دژوند په لاره کښې ختهان کيږی.
سوال دادے چې ويره څه شے دے دا
له کومې لاشعورته راځی او کوم
هاغه عوامل دی چې په ويره کښې
نوره هم اضافه کوی. کومې ددغه
لارې چارې دی چې مونږ وهمونو او
گمانونو ددې زندان نه وېستے
شی.

داټولې خبرې دپښتو ژبې شاعر او
دسائيکالوجی دعلم ډاکټر
کبيرستوری په خپل کتاب «ويره»
کښې راغونډې کړی دی. ډاکټر
کبير ستورے که يوخوا دپښتون
قام پرست په حيث پيژندلے شی
نو بل خوانې په پښتو شاعری
کښې د «قلم توره» او «ژوندی
خيالونه» ډيرلوئې ارزښت لری په
دغه شعری مجموعو کښې ډاکټر
کبيرستوری د هرډول طبع ازمائی
کړې ده. خو مجموعی طورئې

دخپل قام او دخپل اولس غم
ژړلے دے. دپښتون دسباون
اميدونه ئې په زړه پورې تينک
نيولی دی. د مايوسی په دغه
تورتم کښې ئې درجائيت لمن
ټينگه نيولې ده دغه ځانگړی انداز
ډاکټر کبيرستوری ته يو اوچت
مقام ورېخښلے دے.
ډاکټر کبيرستورے دساه پوهنې
سائيکالوجی دعلم ماهر دے او چې
څنگه دانسانی نفسياتو پحقله علم
لری دغه رنگ دشعر په ژبه ددغه

نفسياتو ترجمانی هم کولے شی.
دشاعری هوښيارتيا سره سره
ددوی کتابونه «دهوښيارتياتله»
او «ژبساپوهنه» دسائيکالوجی
په حواله په پښتو کښې دانفرادی
حيثيت کتابونه دی. خو ددغه
ټولو ادبی کوششونو نه يو اړخ
نن سونږ د ډاکټر کبير ستوری
کتنه د «ويرې» په ائينه کښې
کوو.
ويره په يوسل اولس سخونو
خور کتاب دے چې په يوداسې

ورځپاڼه THE DAILY WAHDAT PESHAWAR پېښور

# وحدت

## د ډاکټر کبیرستوري «ویره»

(خالي) (3) 19مئي 2001ء

موضوع لیکلے شوے دے چې زمونږ دا سروزه ژوند سره ډېر ژور تعلق لري. په طبي لحاظ سره که وکتے شي نو په سلو کښې یو کم سل سړیضان د «وهم»، شک، او گمان» له ویرې سړیضان دي په دې کتاب کښې دهاغه ټولو عواملو احاطه شوې ده د کومو په وجه چې دارقم حالات سختې ته راتلے شي. په دې لړ کښې ډاکټر کبیرستوري دهاغه ټولو پوهانو دافکارونه فائده اخستې ده چاچې دتجربو او خیړنو په ذریعه د ویرې عوامل لټولي دي په دغه پوهانو کښې د «لرابد»، «یونگ»، «ویلهم» او «الفردادلر» نامې د ذکر وړ دي چاچې دانساني دژوند په دغه اړخ خیړنې کړې دي او داسې نتیجوته رسیدلي دي چې دهغې په تناظر کښې مونږ کولے شو چې دخپل ژوند دویرې ترهې دغه زهرژنه تیه په اسانه لرې کړے شو ځکه چې داژوند. داورځې شپې ډېرې مختصرې دي چې په دې کښې دسړې سره یوه لاشعوري ویره ملګرې شي نو بیا دا ژوند دالحې داورځې شپې ډېرې ګرانې شي. نو غوره خبره داده چې دمکمل اعتماد او حوصلې په بنیاد دحالاتو مقابله وکړے شي.

د ډاکټر کبیرستوري «ویره» په دې وجه هم ډېره انفرادي کتاب دے چې تراوسه پورې په دې موضوع چا لیکل نه دي کړي. اوبیا په خصوصي توګه دغربي پوهانو دافکارو ژباړنه ډېره کمه شوېده، ولې محترم لیکوال دخپل علمیت اوپوهې په بنیاد دغه ګرانه ډېره اسانه کړې ده اوپه ډېره روانه پښتو کښې ئې د «ویرې» په حواله ډېر کتیورلیکل کړي دي.

«ویره» ټول ټال «شپږویشت» موضوعات لري چې په کښې دخیړنکارو هاغه ټول زورمشاهدات هم شامل دي. د کومو په ذریعه چې دامعلومه کړے شوه چې یوانسان ولې ویره کوي. او په کوم حال کښې کوم قسم ویره سینځ ته راځي په دې کتاب کښې د مثالونو په ذریعه دویرې دمختلفوحالاتو ذکرشوېدے. دغه رنګ یولوستونکے د کتاب په لفظونو کښې دننه دخپل ځان مشاهده کولے شي.

د کتاب په اخري برخه کښې ډاکټر کبیرستوري دیوې سوال نامې په شکل کښې داسې جدول ورکړے دے کوم چې ددې فیصله کوي چې یوانسان څومره ویره کوي بیا هغه څومره دروغ یا رښتیا وائي دسوالونو ځوابونو دا تسلسل ډېر خوند ور او په زړه پورې دے. ځکه چې دهرسوال سره لوستونکے دخپل ذات په هنداره کښې دځان ژوره کتنه کوي. او چې کله ټول سوالونه حل کړي نو په اخره کښې بیاد فیصلې تعین کولے شي.

دپښتو ژبې پښتوادب لمن دداسې قسم کتابونو نه بیخي خالي ده او حقه خبره داده چې مونږ دادب لطیف دتخلیق سره سره دداسې تحقیقي کتابونو ډېر زیات ضرورت لرو ځکه چې ژبه هله دسیالو سره سیاله کیدے شي چې هغه دنورو ژبو دتخلیقاتو او تحقیقاتو نه استفاده وکړي. زمونږ د اولسي ژوند په مقابله کښې دنړۍ قامونه ډېر په وړاندې تلي دي. او هاغه منزلونو ته رسیدلي دي د کومو په لار چې زمونږ ډېر منزل پاتې دے. دامنزل مونږ په ژباړنو رانږدې کولے شو ځکه چې داسې به دپښتو لوستونکي ددغه نورو قامونو دپوهانو د مشاهداتونه خبرشي. ډاکټر کبیرستورے چې دژوند په ټولو زمونږ پوهه دے. د اهنرلري چې دخپل مطالعې او دخپلې پوهې ټول اړخونه دلوستونکو سره شریک کړي. داځکه چې ډاکټر کبیرستورے خپل اولس خپل قام سرلوړے لیدل غواړي. اودغه سرلوړي په علم کښې ده. په پوهه کښې ده. کوم قامونه چې دعلم په کالو ځان سنګار کړي نودغه قامونه بیا سیالي کولے شي.

«ویره» په پښتو ژبه کښې یو داسې کته وره اضافه ده چې هرچاته خپله ائینه په لاس کښې ورکړي. په دې خیال په دې غرض چې هرلوستونکے د کتاب د یکوسره سره دخپل زړه په درزېدو هم نظرولري او دالیصله په خپله وکړي چې په عملي ژوند کښې کومه ویره دهغه ملګرې ده.

ډاکټر کبیرستوري دمختلفو اعصابي مرضونو د ذکر سره سره دهغې د علاج په حقله هم تفصیل بیودلے دے او ځنې هاغه دوایانې ئې هم ذکر کړي دي کومې چې دویرې په حال کښې مدد کولے شي. ډاکټر کبیرستوري چې دخوشحال بابا دویرې په حواله کوم شعر لیکلے دے زه دا خپله لیکنه هم په دغه شعر رااغونډوم چې

ځه خوشحال کمزورے نه یم چې به
دارکـــړم
په ښکاره نعرې وهم چې خلقه ئې
کـــړه.

info@dailywahdat.com.pk
PH:091-2214154-2562239 USA:+15712751612 MOB:0332-9051440
ISLAMABAD:0333-5168131 KARACHI:0322-4098298 LAHORE:0333-918160